# دړد او بهیر

شاعر:

شیرعالم پرېشان



بسم الله الرحمٰن الرحیم ؕ

(ټول حقوق د منصف په حق کښې خوندي دي)

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **دړد او بهیر** |
| شاعر: | شېرعالم پرېشان |
| قوم: | محسود (مسید) سویلي وزیرستان کلے چګملایی |
| د شاعرۍ شروعات: | جولایی ۲۰۰۲ میلادي |
| د زېږون نېټه: | ۱۹۸۸ |
| کمپوزنګ: | حبیب الله اماني |
| کره کتنه: | پریشان محسود او منیب راحل |
| بیه: | ۲۰۰ روپۍ |
| فېس بك آدرس: | پرېشان محسود |
| سکائپ: | *sher.alam96* |
| ایمیل : | *sheralam52@yahoo.com* |
| موبائل نمبر: | 0305 – 9392972 |

# تړون

د خپلو هغو تراخو احساساتو په نوم
چې وخت په وخت د شعر خوارۀ راکوي

شېرعالم پرېشان



## پرېشان او د هغه شاعري

« متل دی وايي، چې ګمان مې نه شي چې د موذي نه مې زوئ وشي.»
خو د دې متل تنې هغه وخت وشلېدې، کله چې د سوېلي وزیرستان د چګمالي دیو کلي وورواند یو ځلمی ځوان د ژمي د کالیغی څېلې دیوه ساړه ګهیځ په مهال سره د خپلې منظومې مسودې سره راتر غاړه وتو د رسمي پوښتنې ګاوېژنې نه پس یې راسره د پرېشان محسود په نوم خپله پېژندګلوي وکړه اومسوده یې د څه مات ګډ تفریظ دپاره په ډېر ویاړجن انداز کښې راته حواله کړه.
موصوف خو پخپله لاره وکوچېده، ولې ماته یې یو داسې درونډ پیټې را په سر کړوچې په نه زړه به یې د ادب په لاره وړم خوکه وړی مې شو.
پاسنی متل بېشکه چې په متاقضي دور کښې د کاڼې کرښه ده د ماضي د مشاهداتو تجرباتو عرق رېزي ده، مطلب هرګز دا نه شي کېدی، چې ګني دغه متل به سبا هم داسې حقیقت ولري لکه څنګه چې وو او دی.
مونږ د تاریخ د لارې وینو او ګورو، منو و تسلیموو چې د پرون اقدار د نن په څېر نه دی پاتې شوی او نه د نن اقدارد پرون په څېر پاتې کېدی شي. هو دا بېله خبره ده چې د عبوري وقفې د فرق په اساس د ارتقاپي سفر سره مشروطي دی، خو انتظار ورسره د وخت او د حالاتو د بلوغت تړلی دی.
خبره مې په دې پورې اوږده کړه چې د سوېلي وزیرستان سوېل اړخ ته پراته شاړه شډله او کاڼیزه سیمه، چې د چګمالي په نوم پېژندل کېږي د باقي وزیرستان په مقابله کښې ډېره پسمانده ده او د تعلیم یافته کسانو شمېر لکه په اوړو کښې دمالګې برابر دی او ادبي شتون په

کښې د نشت برابر دی په دې لړ کښې تېر هېر وخت زما د دعوی تائید کولی شي، خو د پینځلسمې صدۍ د جلال خېل قبیلې نوی کهول راته د مدرسې دننه په ګوته کوي او راباندې زیری کوي، چې پرېشان محسود هغه اولنی جلال خېل شاعر دی چا چې د ډېر کړاو نه پس په ادبي دنیا کښې دیو نماینده شاعر په حېث قدم کېښود او لګیا دی د خپل مانده او ماته چاپېریال دپاره ادبي لارې هواروي. د ادبي ګلونو آبیاري کوي چې کوندې وړمې یې ګاونډي سیمو ته خورې شي.

نو اوس به راشو د پرېشان محسود د خوارو ورو، پرېشانو خیالاتو لور ته چې موصوف د خپل لا شعور د لارې اولس ته څه ډالۍ کوي.

خو په دې نه وړاندې چې د موصوف کلام ته ادبي پاملرنه وکړو اړتیا د دې خبرې ده چې دموصوف په وړاندې خو بلا نومونه پراته وي دوئ ولې خپل ځان د پرېشان په تخلص متخلص کړو؟ هغه کوم محرکات کېدی شي، چې د سماج هر هغه بندیز پرې ماتوي، چې د موصوف د ژوند سره په ګرګچ دی؟

د نفسیاتو پوهان په دې لړ کښې څه پرېکړه لري، خو د تاریخ د لارې او د ادبي تاریخ ترمخه په دې نتیجه رسو، چې د چا سر خوږېږي هغه به پرېشان وي.

پرېشان وګړی، پرېشان ملت د خپل زېلي چاپېریال د اقدار سره د سمجهوتې په ځای د بدلون لار خپلوي. هغه د قدامت پرست کلتور، چې په کښې مادي او غیر مادي عناصر شتون لري، له مېنځه د وړلو هڅه کوي. هغه نه شي کولی چې د زړو روایاتو سره دغسې زوړ پاتې شي.

بعینه چې موصوف د کله راهیسې پرېشان شوی دی د ارتقا درك په لاس ورغلی دی هغه د خپل ادبي قلم د لارې په جار نعرې کړې دي، چې د نړۍ په کوم قوم کښې چې بې حسي او بې ضمیري پیدا شي، نو



په داسې حالاتو کښې هغه قوم خپل روایات وبائیلي محکوم شي، غلام شي او د سیالی په منډه کښې د پاتې کېدو څه چې د منډې موقع هم وبائیلي لکه د نړۍ په اولني جنګ کښې چې جرمن قوم په شا لاړو. نو د اتحادي قوتونو تر ډیکشن لاندې یې ساه واخیسته. هو هرکله چې څوك د ژوندي ضمیر کسان راپورته شول اتحادي قوتونه یې پاره پاره کړل. د اېشیا او د افریقې ډېر قامونه یې د آزادۍ په خوارږو پوه کړل دا ښېل حقیقت دی چې د وخت په تېرېدو سره سره حالات یو رنګ نه شي پاتې کېدی.

د موصوف په نظر کښې قامونه غورزیږي هم پاڅیږي، خو د پښتنو په هکله وایي، چې پښتون د چا هم غلام نه دی پاتې شوی. ژوندی احساس، ژوندی ضمیر لري لکه یوځای داسې وایي:

ژوندی احساس ژوندی ضمیر لرمه
زه د خپل فکر خور ځنځیر لرمه

سامراج د موصوف دغه دعوې ردوي ورته وایي، چې دا در په در کډه په سر، چرته ګرځېږې؟ نو موصوف ورته وایي، چې کنه! نه به دې یادېږي چې زه پښتون بهلول لودهي وم، شېرشاه سوري وم، ابدالي او میرویس بابا وم.

نن هم هغه تندریزبخري او سېلابي حباب لرم، چې که وغواړم نو ستا خونه پرې سوځولی شم. ستا د جبر په بنیادونو جوړ تاج محل لکه د ګنګخړی بهولی شم. لکه وایي چې:

ذره به یم خو بې شرره نه یم
لکه حباب بې سمندره نه یم

موصوف خپله خبره وړاندې بیایي د خوشال خان خټك د دې خبرې تائید کوي، چې تر ظالم کېدو مظلوم کېدل بدترین ذلت دی لکه چې وایي:

ذري ذرې بـه شـم خـو ټيـټ بـه نـه شـم
اغيــاره! مـــه كـــوه افغـــان يمـــه زه
د ننـګ تنـړې بـه مـې پـرې نـه كـړې چـرې
د ابـــدالي ســـينې ګرېـــوان يمـــه زه

اګرچې د آزادۍ د لېواله ملګرو سره مخ په وړاندې ځي ټکيږي، خو تر دې دمه مايوسه کېږي نه، چې د ازادۍ د ناوې پلو به څنګه اوکله اخلم تخاطب ورته څه داسې کوي:

سور خمار مې ستا د شونډو نصيب نه شو
د رنـدانو سـره مـل يـم لـه خـوا دا يـم

د وخت او حالاتو نا موافقې پروپېګنډې يې په هر صورت چې وي د خپل مرام نه بېرته راکاږي، چې مړه په دې لار کښې د سر زيان او د کور کالئ تاوان دی راشه سمجهوته شه خو موصوف د خپل پوخ ايمان او پاخه عشق د لارې داسې ورته وايي:

د کوم ژوندون په هر يو پل چې امتحان پروت دی
تاوان دی پروت خو په دې لاره کښې جانان پروت دی

موصوف نه غواړي چې وزيرستان د اغيارو د لاسه لوټې لوټې شي وګړي يې در په در شي او واړه يې د اغيارو په کوڅو کښې خبر وغواړي، خو بيا هم د منتظر بېټني په دې شعر پورې ځان تړي لکه:

سپين خو سپين وو سپين د امن علامت دی
ســپين بيـرغ بانـدې د امـن دې وار وکـړ

(منتظر بېټني)

موصوف ورسره په دې لړ کښې خپله غاړه داسې اوږدوي لکه:

جنـګ دې ورك شـي ورانـوي ودان کورونـه
دا د امـــن سلسلـه بـــه ســـاتو ځوانـــه



خو دې سره سم يوپټ احساس ورسره مل ګرځي. لمسوي يې، تخنوي يې او پاروي يې، چې نامړه! امن خو ددوه جنګونو په مېنځ کښې تشه يوه مجهوله وقفه ده، چې د ټولنيز ژوند مارشل سپيرټ زايلوي، نو موصوف خپل فکري اړخ بدلوي د زغل او د غورځنګ فلسفه داسې تکراروي:

انقـلاب د اباســين لـه پـه څپـو دی
په موجونو کښې يې زور اوهم غورځنګ شته

د پرېشان محسود نور ناپ تول به څه وکړم ما خو د نمونې په توګه د موصوف د مسودې نه دغه يو څو شعرونه اخيستي وي، چې په دې يو څو شعرونو کښې مې څه محسوس کړل د قلم ژبې ته مې وسپارل.

خو څوك كه دڅېړنې وړی داسې وي، چې تنده ماتول غواړي نو د پرېشان صېب ورته دغه شعر وړاندې کووم په دې هيله چې موصوف سرتر پايه د ادب په زرکانې وسنجوي لکه د موصوف دغه شعر څه داسې دي:

پرېشانه مانه به د ژوند په اړه څه پوښتي څوك
زما غزل کښې بس زما د ژوند تفسير ښکاري

ستاسو د لارې ملګری
روغ بادشاه خيال وزيرستاني
۲۰۱۵- ۲- ۲۴

# یو څو خبرې

شعر یوه عطیه ده، چې الله پاك صرف هغو خلكو ته وربخښي، څوك چې د دې جوګه وي ګڼي هسې خو دنیا د ډېرو تكړه او عالمانو خلكو نه ډكه ده، مګر هغوی نه شعر لیكلی شي او نه پرې پوهېږي.

شعر د حساسو زړونو خاوندان لیكي، ولې چې شاعري صرف په دماغ سرته نه رسي، تر څو چې په كښې د زړه زور شامل نه وي شعر نه شي لیكلی كېدی. څوك چې اندورني او بیروني دردونه د نورو خلكو په نسبت زیات محسوسوي، نو د شعر رجحان یې ځان ته راكاږي. شعر د شاعر د اندروني سرېكې چغه ده او چې كله هم دغه چغه د وجداني عمل نه تېره شي، نو دیوې صوتیاتي مجسمې شكل كښې بدله شي كومه چې د لفظونو په جامه وي. كله چې دغه مجسمه د شعر د فن او هنر د كړلیچونو نه راپورته وځي، نو د شعر په شكل كښې ځان ښكاره كړي. هر ښه شاعر ددې اذیتونو نه تېرېږي. پرېشان محسود صېب هم د هغه شاعرانو د فهرست غړی دی. زما د دې دعوی تائید هغه په دې شعر كښې داسې كوي:

د فكــــري شـــعور خبـــرې دي پرېشــــانه!
شـــاعري نـــه ده د خُلـــې د كـــلام هســـې

د پرېشان شاعري محدوده نه ده، بلكې ډېر اړخونه لري او په دغه



اړخونو كښې جوت او عالي اړخ د كلاسيك دی، چې په نورو اړخونو ډېر درونند او غالب لیدی شي، كوم چې په ژبه او سماعت پوست او خوږ لګېږي او په معنوي لحاظ خپل یو ځانګړی حیثیت لري، لكه چې وایي:

هســـې بـــې شـــرابو مســـت لكـــه دریـــاب یـــم
الـــواني مـــې بیـــا لمنـــې د الـــواك دي

د دې شعر نه د پرېشان د فكر د عروج ښكاره پته لګېږي لكه چې وایي:

رقـــاص كلـــه د ځنځیـــر پـــه كـــړی بنـــد دی؟
شـــاهین ګـــوره تـــل د ځـــان پـــه خطـــر نازكـــا

پرېشان صېب د قدیم او جدید رنګونو په امتزاج هم ښه پوهه لري لكه چې وایي:

ســـلګۍ بـــه دې لـــه شـــونډو تـــر مژګانـــه رســـووم
هـــر آه بـــه دې زړګیـــه تـــر جانانـــه رســـووم

د احساس او جذبې د اظهار دپاره د غورو او ښایسته لفظونو انتخاب كه فطري عمل وي، نو د شعر په معنوي او صوتیاتي ښكلا كښې د اضافې سبب ګرځي او هم په دې فن كښې پرېشان ډېر بریالی ښكاري د نمونې په توګه دا شعر:

چـــې زمـــا د كـــوره اوځـــي بـــېخ دې اوځـــي
چـــې بـــل كـــور تـــه ننـــه وځـــي بـــېخ دې اوځـــي
هـــوس ســـیند دی د زقـــم د اوبـــو هســـې
چې دې سیند ته څوك پرېوځي بېخ دې اوځي

بل ځای پرېشان د خاورې غم په دې طرز ژاړوي او وايي:

د ويجاړ ګلشن په سبل عندليب څه کړه
نه سپرلی شته او نه ګل شته غريب څه کړه
په احساس او په شعور دا تميز کېږي
ګني خلك په شاعر او اديب څه کړه

د پرېشان شاعري صدابهار شاعري ده، چې په کښې د تېرې او راتلونکې زمانې رنګونه جوت ښکاري، چې همېش به ژوندي او تروتازه وي. الله پاك دې وکړي چې کوم لعلونه او ملغلرې د پرېشان صېب په فکر کښې خوندي پراته دي هغه هم رااوسپړدی شي.

دعا ګويم- وسلام
خاورې ګوهر شناس
۲۵ جنوري ۲۰۱۵
امريکا



## زما مسيد ورور!

شعر ته هر چا د خپلې پوهې او اخستې سره سم يو تعريف ورکړی دی، زه دلته د هغه په تعريف نه غواړم خبرې وکړم، بلکې دومره وايم، چې شعر د زړه د براس ايستلو، د عواطفو د څرګندولو، د چاپېريال او په هغه کې د رامخې ته کېدونکو پېښو او حوادثو انځورولو او بيا هغه بېرته خلکو ته د ورسولو، يوه خوږه، ښکلې او منظومه وسيله ده. د شعر تخنيکي اړخ هر څوك کولای شي، چې زده کړي، خو په هغه کې د پيغام، انځور او داسې يو څه رانغاړل چې، نه يوازې د شاعر، بلکې د ټولنې د درد او غم، خوښې او خوشحالۍ، هيلو او اميدونو، تفکر او نظر څرګندونه او انعکاس وکړی شي، شايد د هر چا کار نه وي او هر څوك يې وس ونه لري، نه پوهېږم چې، دنيکه مرغه وو ايم او که دبده مرغه خو په ورستيو څو لسيزو کې زموږ په ټولنه کې شاعران تر بل هرچا ډېر شوي دي، ځينې يې شعر د ځان د مشهورولو لپاره وايي، ځينې يې د خوند لپاره وايي، خو شته داسې کسان هم چې د ټولنې د احساساتو، ناخوالو، خوښيو او ښاديو د منعکسولو، ټولنې ته د خپلو خيالاتو، خپلو عواطفو، خپل احساس او خپل درد د بيانولو او شريکولو لپاره د شعر ژبه غوره کړې ده، ځکه چې د شعر ژبه تر نثره لږه خوږه ده.

له بله پلو ډېر داسې شیان او څه شته چې، زموږ په سنتي ټولنه کې چې د ځینو ټولنیزو او دودیزو خنډونو او چوکاټونو له امله، څوک هغه په عامه ژبه کې نورو ته نه شي ویلی او بیانولی، خو که د شعر په ژبه هغه ووایي، نو په ټولنه کې د جوړشوي ذهنیت په چوکاټ کې چې شاعر ته یې تر ډېره بریده د بیان ازادي زموږ ګران او ځوان شاعر ورکړې هغه دومره منفي عکس العمل نه را پاروي.

شېرعالم پرېشان محسود (مسید)، شاید طبیعتاً د مینې، محبت، ښکلا او خوښۍ د ستاینې لپاره شعر وای، خو څرنګه چې شاعر د هنداړې حیثیت لري او هر هغه څه چې په ټولنه او چاپېریال کې یې وینې، اوري او احساسوي، هغه بېرته ټولنې ته د شعر په ژبه انعکاسوي، نو د پرېشان ورور په شعر کې هم، د ده د ټاټوبي د ده د کلي او چم، د ده د قبیلې او ټبر حالت، هغه دردونه او ناخوالې، هغه کړاوونه او ځورېدنې، ویر او فریاد، چې ولس او ټاټوبی یې ورسره لاس او ګرېوان دی، لکه چې په یوځای کې وایي. ځان راښکاره کوي او د شعر یوه برخه یې جوړوي.

چې ټول غرونه د وطن یې راته وسول
د نفرت د دې پېلوځي بېخ دې ووزي
چې پښتون وي او د قام پر سر ننګ نه که
تل د دغسې نر ښځي بېخ د ووزي

دی چې د زیاتره نورو پښتنو په څېر، نور له جنګ،جګړې اووینې تویونې نه ستړی شوی دی او توره او ټوپک د ستونځې حل او نېکمرغه ژوند وسیله نه ګڼي، نو خپل ولس ته د تورې او ټوپک په ځای، د علم او پوهې دلمنې د نیولو غږ کوي:



اوس د تورې وخت تېر شوی توره کېږده
مقابله د نوي دور په قلم کا

لکه په دې بیت کې:

زما د قام بچي به څنګ په سمه لاره سم شي
چې څوک قلم ګوتو کښې، څوک لاس کښې کتاب نه لري

شېرعالم پرېشان محسود هم د خپل ولس د نورو وګړو په دود په دې ارمان دی، چې نور د پښتنو په خاوره کې د جګړې تور ټغر سره راټول شي، د ولس د بدمرغۍ لاملین زموږ ګرېوان پرېږدي د سولې او سوکالۍ سیلۍ را والوزي او دغم او ناخوالو کرغېړنې او خیرنې وریځې زموږ د وطن د فضا او اسمان نه لېرې وشړي او د خوښیو او خوشحالیو د پسرلي زېرې د ځان سره راوړي. دی خپله دغه هیله په دې بیت کې داسې تر ولسه رسوي:

چې افغان په سیمه سپین ګلونه وشي
خدایه ورك کړې له وطنه بهر مخي

زه نه غواړم چې خپلې خبرې اوږدې کړم او لوستونکي رابولم، چې د شېرعالم پرېشان محسود کلام ولولي او ډېر داسې څه په کې ومومي، چې زه به ورته نه وم متوجه شوی او خوند ورنه اخلي دګران ورور شېرعالم پرېشان محسود نه.

یوه هیله او وړاندیز ورته لرم، چې باور لرم، خوابه نه ورباندې درنوي او هغه دا چې، که د (محسود) پر ځای خپل تخلص یا د قوم نوم (مسید) ولیکي، نوبهتره به وي (محسود) نوم موږ مسیدو ته، زموږ د دښمنانو لخوا راکړل شوی دی او د مسیدو خپل او اصل نوم (مسید)

دي. ما په دې اړه څو څو واري ليکنې کړې دي، نو ځکه دلته نه غواړم چې خبره اوږده کړم، او زما ليکنه د اصلي موضوع نه د لوستونکو د پام د بلې خواته ګرځېدو لامل شي.

په ورستيانو کې غواړم ووايم، چې زما لپاره د ځانګړې خوښۍ ځای دی، چې شېرعالم پرېشان محسود د پښتون ستر ټبر د مسيدو د قبيلې څخه دی او پخپلو شعرونو سره جوتوي، چې مسيد نه يوازې د مېړانې په ډګر کې نوموړي او وتلي دي، بلکې د ادب او پوهې په ډګر کې هم تر خپلو نورو ورونو شاته نه دي پاتې.

د ژوندانه په هر ډګر کې ورته د سترو بريو دعا کوم

۲۳ فروري ۲۰۱۵ زيب منتظر مسيد

جلال آباد



# ناليدلی جانان

د چاپه شاعري باندې څه ليکل يا رايې ورکول ډېر مشکل کار دی، ځکه کېدی شي، چې شاعر يو شعر داسې ليکلی وي، چې په هغې کښې د شاعر يوه پوره دنيا پټه وي او د هغه لپاره ديو تاريخ حيثيت لري او که بيا خدای مه که په دغې شعر قاري خپله تفصيلي رايې ور نه کړي، نو خبره نيمګړې شي او بيا د هغه چا په شاعري خبرې کول، چې نه دې ليدلی وي او نه کتلی، او شاعري دې هم پوره پوره نه وي لوستې، نو دا خبره نوره هم ګرانه شي، خو دا د ښاغلي پرېشان صېب مينه او خواهش وو، چې زه يې په کتاب څه ليکل وکړم، نو لازمه شوه چې زه به ترې خپله رايه ونه سپموم او تر خپله وسه به پرې بې د څه مبالغې يو څو فقرې ستاسو حضور ته کېږدم.

حالانکې شاعر وايي چې:

لکه حباب د دريابونو د جهان په مېنځ کښې
پټې معنې مې ژوند لري ښکاره هيڅ باب نه لري

اوس راځم د پرېشان صېب دشاعري لور ته، ما يې چې څومره شاعري ولوسته، نو په دې راز ورسېدم، چې ښاغلی شاعر يو کلك او ايماندار پښتون دی. د شعر او د شاعرۍ په رموز پوره پوره پوهه دی. په شاعري يې د تصوف رنګ غالب دی او د دې خبرې اظهار ښاغلی په خپل يو غزل کښې هم کړی دی. دا شعرونه يې ولولئ:

دا هستي او دا مستي ستا وجود نه دی
ولې تېر شي سحر هسې مابښام هسې

که ګل مخي دی پېمخي که لمر مخي
د جمال واره نزول دی له برمخي

او دا:

آزادي راته محسوس شوه تصور کښې
خدایه ستا تخلیقٍ نور کښې مستانه شوم

چونکې شاعر موصوف د مدرس په توګه کار کوي، نو ځکه یې د غزل یو شعر هم بی مانا نه دی. هغه دیو شفیق استاد غوندې خپل قاری ته د ژوندو ژواك او پرمختګ لارې په ګوته کوي. د شعر دا نمونه یې وګورئ:

انجام د بدو وایي چې بد وي
په بدو سر شوم زه خو مړ کېږم

هوس سیند دی د زقم د اوبو هسې
چې دې سیند ته څوك پریوځي بېخ دې وځي

او یا دا چې:

ډېر هوس به دې سړې خاورې په خله کا
ضرورت کار اول دی ارمان بیا دی

موصوف په خپله یو تعلیم یافته کس دی او د علم تبلیغ هم کوي او وایي چې:

اوس د تورې وخت تېر شوی توره کېږده
مقابله د نوي دور په قلم کا

او دا چې:

زما دقام بچي به څنګ په سمه لاره سم شي
چې څوك قلم ګوتو کښې څوك لاس کښې کتاب نه لري



او دا یې لا اوګورئ چې:

چې مهار د امېد پرې نه وي یارانو
رسولی مې لوټلی کاروان بیا دی

هسې خو پښتون قام د میلمه پالنې، ننګ او غیرت پالنې په وجه شهرت لري او بیا په تېره د غریبزو سیمو پښتانه خو دې کښې هیڅ ثاني نه لري لکه:

زه داسې ساقي یم چې ماښام مې رندانه کۀ
خپل یم و چې شونډې خو جانان مې مستانه کۀ

یا

چې پښتون وي او د قام په سر ننګ نه کا
تل دې دغسې نرښځي بېخ دې وځي

شاعر د مینې او محبت هم قایل دی حتی چې مینه نه کول د ژوند نه نفرت کولو سره مشابه کوي او وایي چې:

مینه نه کړل د ژوندون څخه نفرت دی
د پرېشان دلبره مه دغه ستم کا

په آخر کښې زه خپلې خبرې په دې ډاډ را لنډوم، چې دا کتاب (درد او بهیر) به د پښتو د ادب په اسمان کښې دیو ځلنده ستوري حیثیت اومومي. ځوانان به یې په لوستلو خوند واخلي او زړه به یې په خپلو خبرو کښې دمثالونو په طور شعرونه وایي او نوی کهول به ترې ډېر څه

زده کړي. دا هم په دعوی سره وای، چې هرکله هم د وزیرستان د شاعرانو تذکره کېږي، نو د ښاغلي پرېشان محسود صېب نوم به په کښې لکه د ګوتمۍ دغمي ځلنده او روښانه وي. لاس په دعا یم چې الله پاك دې موصوف ته ښه اوږد عمر ور نصیب کړي. د قلم څوکه یې نوره هم تېره غواړم. د موصوف په دې شعر اجازه غواړم چې:

شمله به دې وطنه چاته ټیټه په ژوند نه کړم
تاریخ ستا د باتورو تر جهانه رسوم

په ډېره مینه

اکبر مهجور بېټني نیم قبائیلي علاقه رتن زئ، لکي مروت



# د پرېشان محسود صېب په شاعرۍ یو لنډ نظر

د ګران پرېشان محسود صېب په شاعرۍ که ما هر څومره نظر واچولو په سمندر کښې د ګوهرونو غوښتل دي (د سترګو د نظر نه وړاندې او د سمندر دتل نه لاندې) فکر لري، چې دې فکر ته د رسېدو دپاره دیو لوی شاهیني نظر خاوند او د ژورو اوبو لامبوزن ادیب پکار دی.

پرېشان صېب دې د خپل شعر په داسې زانګو زنګوي، چې کله کله به دې بره اسمانونو ته یوسي او کله کله به دې د خپلې بې شعوره معاشرې مخې ته ودروي د ځان او د چاپېرچل د حالاتو تماشبین هم دی او یو دروند لیکوال هم.

یو نیم غزل خو یې داسې ښکاري، چې ته به وایې چې زه چرته د باباګانو په زمانه کښې محترم پرېشان محسود صېب وینم ژوره مطالعه لري او ډېر ښایسته کلمات کاروي.

کاږه کاڼي شي بنیاد د محلونو
چې خراش تراش یې وکا هنر مخې

د شعر او ادب سباوون یې ډېر روښانه ښکاري د نوي کهول د شاعرانو دپاره د پوهنتون حیثیت لري. ډېر ژور فکر لري هر شعر یې ډېر ژور او ماناخېز دی. د یو لوی لیکوال او نېکمرغه ژوند لپاره ګران پرېشان صېب ته لاس په دعا یم د پرېشان صېب په دې شعر درنه اجازه غواړم:

چې مهار د امېد پرې نه وي یارانو
رسولی مې لوټلی کاروان بیا دی

سلطان احمد نادان وزیر

ډېره اسماعیل خان

۲۰۱۵-۱-۲۴

# د پیر غر ژاغ

د ګران پرېشان صېب سره مې د انټرنېټ د لیارې پېژندګلوي وه خو اخیر یوه داسې ورځ هم راغله، چې د ګران پرېشان صېب سره مې مخامخ لیدل وشول.

ډېر د مینې نه ډک شخصیت دی د اوچت نظر خاوند دی او دیوې ډېرې ژورې مطالعې څښتن دی. په کلام کښې یې بې کچه وزن دی.

زه فکر کوم، تل په دغسې ځوانانو چې په را روان وخت کښې د شعر او ادب په ډګر کښې ډېر څه وکړي او دا خاوره په خپلو ژورو او رنګینو فکرونو نوره هم زرخېزه کړي. پرېشان صېب ته د لوی څښتن نه ډېر ژوند غواړم.

پرېشان خو وخوړو د قام غم ګني څه قیصه ده
جګه شمله به په خپل سـر د وقـار وخیژوي
(پرېشان)

نور عالم مسید
ډېره اسماعیل خان
۲۷-۱-۲۰۱۵



# لږ د خپل ځان او د خپلې شاعرۍ په حقله

اغاز مې د خپلې شاعرۍ له هغه وخت نه وکړو، چې زه د څوارلسو کالو د نهم ټولګي زده کوونکی وم، کله چې زه دخپل کور شاته دیوه بوټي سیورې ته د اوړي د سخت لمر څخه ناست وم. یوه سندره غوندې مې اولیکله چې هغه وخت زما خوشحالي د اظهار د بیان نه بهر وه هغه په دې نه چې که رښتیا ما چرته یو مکمل څیز ولیکلو. یه زه چرته رښتیا شاعر شوم خو زما په زړه کښې چې کوم پټ دړد وو د هغې دړد له چوکاټه مې سر لږ را بهر کړو او ډېر خوشحاله وم بیا دغه سفر په مکمله توګه روان وو، د دړد د دې سفر په پړاوونو کښې رښتیا چې ما ډېر څه ولیکل، خو له بده مرغه چې په مونږ (محسودو) په وزیرستان کښې کوم امتحان راغی د هغه له عمله مونږ بې کوره شوو. د خپلې شاعرۍ اوویشت غټې او وړې کاپیانې مونږ دځان سره ګرځولې او په دې کښې یو منتخب بیاض ما د خپل ځان سره خوندي کړی وو، چې په هغې کښې به ما تازه کلامونه هم لیکل، ځکه چې زیات وخت به زه په سفر وم، نو زما سره په اکثر دغه یره وه، چې هسې نه چې زما دا شاعري چرته دکډې ددې یوځای نه بل ځای بارولو کښې ورکه شي، پاتې شي یه د کوم بل چا لاسونو ته ورشي، نو په دې اوویشت کاپیانو کښې ټول شپاړس سوه نه زیات مختلف نظمونه، غزلونه، سندرې او

شعرونه وو. ما دا ټول هرڅه د اور سيني ته وبخښل وروستو راته يو څو ملګرو وويل چې دا خو دې ډېر غلط کار کړی دی. يقيناً چې ماته ډېر احساس وشو خو دا هرڅه شوي وو.

تر اوسه پورې مانۀ په کومه مشاعره کې برخه اخيستې ده او نه زمونږ په سويلي وزيرستان کښې څوك د مشاعرې نوم اخلي نورې ادبي ټولنې او د پښتو د ادب و شاعرۍ کتابونه خوبيخي په نظر نه راځي، نو زما دمات ګوډ کلام وجه هم کېدی شي چې دا پاسني ذکر شوي عوامل وي.

زه په شاعرۍ کښې د معيار قايل يم، ځکه چې شاعري صرف دقافيې او د رديف خبرې نه دي اونه دا چې تا ډېر څه وليکل نو ته غټ شاعر شوې ګڼي زه به نن کم از کم د لسو کتابونو مصنف وی، خو بايد يو کتاب دې ولې نه وي، خو چې جامع او منظم وي.

زما بل کتاب هم چاپ ته تيار دی خدای دې وکړي چې ژر يې خپل اولس ته ډالۍ کړم.

په اخېر کښې:

۱- زمونږ د سيمې پياوړی او فلسفي شاعر جناب روغ بادشاه خيال وزيريستاني.

۲- ډېر زړه ته را تېر او خوږ ژبی شاعر محترم نور عالم مسيد صېب.

۳- ډېر تکړه شاعر، سياست وال، مصور، مجسمه ساز او درونډ ليکوال محترم زېب متنظر مسيد (جلال آباد)

۴- ډېر درونډ، د پښتو او اردو ژبې شاعر او اديب او د فلسفيانه فکرونو خاوند محترم ګوهر شناس صېب (امريکه)

۵- ډېر مخلص، ښه انسان او د پښتو خوږ ژبی شاعر محترم اکبر مهجور بېټنی صېب (لکي مروت)

۶- ډېر نوموړی، مينه ناك، شاعر او ليکوال محترم سطان احمد نادان



وزير صېب (ډي .آی، خان)

۷- زما ډېر خوږ ملګری، نقاد، شاعر او د شنه زرغونه پښتو رسالې مدير اعلی محترم منيب راحل صېب (بنوں)

۸- پروفيسر دوست محمد محسود، انجنير نجيب البارى (بيټنی) سماجي شخصيت مصباح الدين مصباح (چګملايی) زماګران او قدرمن استاد جناب حاجي غنم ګل صېب (ريټايرډپرنسپل) ډاکټر نثار احمد.

ډېر زړه ته راتېر درونډ ليکوال او سياست وال جناب عبدالله ننګيال بېټنی، نويد طلبګار بېټنی، فريدالله فريد بېټنی، رفعت الله حساس (محسود)، پروفېسر اکبر ناياب محسود(زوالوجېسټ)، ګل شاخان ټګور بېټنی، ګوهر جلالي، ډاکټر احمدجان بېټنی او په اخر کښې د خپلو ګرانو شاګردانو (زده کوونکيو) هم مننه کووم چې زما نه به يې کله کله زما د ښۀ او مقصدي شعر غوښتنه کوله.(برياوې يې نصيب شه).

زه د ذکر شويو درانو او قدرمنو شخصياتو د زړۀ د تل نه شکريه ادا کووم او تل ورته نېکمرغه ژوند غواړم.

په پښتانه مينه

ستاسو ورور

پرېشان محسود

حالاتو مې لاسونه د ګرېوان سره بلد کړل
وختونو مې وختونه د دوران سره بلد کړل

هرڅوکه عقل ځان بچ کړو دادې تورو تیارونه
جنون هم ځنځیرونه د زندان سره بلد کړل

په وینښه مې خوبونه د زړه نه پوره کېدلو
دا ځکه مې په خوب کښې د ارمان سره بلد کړل

هروختې ژړاګانې، جنازې او تور تمونه
دې دور پښتانه د هر طوفان سره بلد کړل

هروخت ګورمه خدایه! ستا د شان لوړې ژورې
حدونه د نظر مې د آسمان سره بلد کړل

ډېر خلك راته خپله نامه نه اخلي **پرېشانه!**
شعرونو مې اوس خلك د پرېشان سره بلد کړل



که ګل مخي دي پېمخي که لمر مخي
د جمال واړه نزول دی له بَر مخي

دوفا په دې بازار کښې ای زړګیه!
دلبري نشته دی ټول دي دلبر مخي

چې افغان په سیمه سپین ګلونه وشي
خدایه! ورك کړې له وطنه بهر مخي

ډېرې زر به د ظلمت تیارې رڼا شي
ماښامونه مې لیدلي سحر مخي

کاږه کاږې شي بنیاد د محلونو
چې خراش تراش یې وکه هنر مخي

هم رښتیاده هم رښتیا وایم **پرېشانه!**
نهرښه وي ولې ورك شه نهر مخي

لکه ګل د لمر پرست په سحر نازکا
دا سې زړه مې په لیدو د دلبر نازکا

څو به زه د عشق له سوزه ځیګر خون کړم
څو به ښکلي د ستم په هنر نازکا

رقاص کله د ځنځیر په کړی بند دی؟
شاهین ګوره تل د ځان په خطر نازکا

توري وروځې یې دي توري تېرې تُورې
تور چشمان یې د باڼو په لښکر نازکا

د وطن مینه به څوك په څه کښې وینې
زما زړه په جګو غرو د خیبر نازکا

دومره تنګ د زمانې له کوم ستم وو؟
چې **پرېشان** له دې دنیا په سفر نازکا



خدای دې مهٔ کانده پهٔ عشق کښې ناکام هسې
پهٔ فراق به دې پهٔ سر شي الزام هسې

د سلام پهٔ ځائ یې ناز پهٔ جمال وکهٔ
پهٔ قشنګ دلبر مې وکړ سلام هسې

لکه هېره خوشحالي چاته پهٔ زړهٔ شي
په لیدو کښې دې همه دئ الهام هسې

د فطرت په حېرانۍ کښې بوخت زبون یم
لکه ماته ائینه پهٔ ابهام هسې

دا هستي او دا مستي ستا وجود نهٔ دی
ولې تېر شي سحر هسې ماښام هسې

د فکري شعور خبرې دي **پرېشانه!**
شاعري نهٔ ده د خلې د کلام هسې

نۀ د ساز شوه نۀ دتور سوي آواز شوه
دا زمونږ مينه بلا! د كوم جواز شوه

د شهيد وينه مسكۍ شوه په حيات كښې؟
اوكه خله د غنچه لب هسې ګ**ل** واز شوه

د حېرت مركز يې دا زما سينه شوه
زمانه چې مې آګاه په رنځ و راز شوه

زه به ولې د قام سترګې نه يم خلقه!
چې مصرع مې د هر شعر زمانه سازشوه

مرۀ وجود كښې مې چې ساه په غزېدو شوه
ترانه د ژوند نغمه په كوم شهباز شوه

بار د زلفو يې د مله تير هسې كوږ كړو
كه **پرېشانه** ليونۍ كړه له ناز شوه



غم به ولې د دلبر په ما تاوان شي
امكان نشته چې سره زر په ما تاوان شي

چې دتورو توريو قدر دئ تر سپينو
خپ**ل** فكرونه لكه لمر په ما تاوان شي

ستاديو نظر ليدو په طمع طمع
بې وفا ټول مازيګر په ما تاوان شي

هره ورځ چې وروې پرې د ناز غشي
ت**ل** به دغسې پرهر پۀ ما تاوان شي

د رشوت او سفارش په دې نظام كښې
خپ**ل** سند او خپ**ل** هنر په ما تاوان شي

چې مفاد تر غرض خپله خودي بائيلي
**پرېشان** داسې سر لښكر په ما تاوان شي

هر چې ستا زهره جبین وته کاواك دي
هغه خلك له د خپل ځان په ادراك دي

د کوچیانو د رمو شپېلونه نۀ دي
دا زمونږ ښایسته کېږدۍ د ژوندو ژواك دي

تۀ د خپل حسن په باغ و بهار ګډه یې
ګرېوانونه د مئینو دې چاك دي

هسې بې شرابو مست لکه دریاب یم
الواني مې بیا لمنې د الواك دي

د سینې پرده ترې پورته کړه حرم دی
خزائن د لعلو پټ هسې تر خاك دي

تلامیذ په ښوونځي کښې **پرېشان** ژاړي؟
که دړدونه مې په زړه کښې په بلغاك دي



ډیوه ګۍ بله تر سحره ساتي
څوك چې پرواز تر آسمان بره ساتي

د خپل شاعر د دړد احساس وګوره
د زړۀ فریاد لکه سندره ساتي

هغه د عشق له رنځه زیات وي خبر
دا څوك چې ځان ترې ناخبره ساتي

په اشنایۍ کښې خو اشنا وي سړی
نۀ چې په زړۀ پټه خبره ساتي

کار راته نۀ غواړي کار ګوري راله
دا فېلسوف مې بې هنره ساتي

ویر کائنات په تا راتنګ ولې شي؟
د ستا **پرېشان** خو سینه ستره ساتي

دا خو کله کله مست شم مدام نهٔ وم
لکه رند درته ساقي په سلام نهٔ وم

دا خو کله کله هسې ګوتې شمېرم
تل د ځان سره په لار هم کلام نهٔ وم

داسې ورځ مې بلا! چرته په نصیب شوه
درد آلود دی چې د عشق په انجام نهٔ وم

سباوون له مې د باده سبا راشه
هسې نه چې سحر یمه ما ښام نهٔ وم

محبت که د دړدونو سرمایه وي
له دې دړده خو دې تل په آرام نهٔ وم

بدنامي له بدو بده وي **پرېشانه**!
خدای دې وکړي چې د بدو بدنام نهٔ وم



ذره به یم خو بې شرره نهٔ یم
لکه حباب بې سمندره نهٔ یم

بلا فکرونو نازولی یمه
رنګین غزل یمه سندره نهٔ یم

نن یې وئیل راته یقین دې وشه
ستا نه لحظه هم ناخبره نهٔ یم

موافق نه یم له دې چاسره زهٔ
چې ګوري بره وایي بره نهٔ یم

د غره لمن کښې یم چې تابولمه
دا یم اشنا د غره د سره نهٔ یم

سمندرونو کښې به چا غوښتلم
ښه یم **پرېشان** چې ملغره نهٔ یم

راشه دنیا کښې وسېدل زده کا
په شا روانه! مخکښې تلل زده کا

منم وي لارې د ژوند سختې
په سختو تړو کښې مزل زده کا

د غزل چل ته هیڅ هنر نه وایم
دا چل یې هیڅ شه روغ غزل زده کا

تش په لیدو په ننني دور کښې
هسې نه تېروځې کتل زده کا

دا کائنات له حقائقو پېدا
صوفي اشنا اتۀ او شل زده کا

څه به وي کشش دادې زمکې **پرېشان**!
تۀ خو ترې پورته لږ ختل زده کا



ولې خبر شوم زه خو مړ کېږم
خوږ په ځیګر شوم زه خو مړ کېږم

چا لېوني وېل، اندرون ښه وم
چې رابهر شوم، زه خو مړ کېږم

فطرت ته ګورئ ازغی ګویا دی
په لار کښې کرشوم، زه خو مړکېږم

دا په دې نۀ چې هرڅه زما وی
په حق نهر شوم، زه خو مړ کېږم

انجام د بدو وایي چې بد وي
په بدو سر شوم، زه خو مړ کېږم

**پرېشان** هندو وم، تر ننن ژوندی وم
پښتون شوم خرشوم، زه خو مړ کېږم

زه داسې ساقي يم چې ماښام مې رندانه کۀ
خپل يم وچې شونډې خو جانان مې مستانه کۀ

داسې لېونی چې همه کار مې دی له غمه
دا زخمي زړګی مې په دردونو دُردانه کۀ

حسن خو رښا ده ځکه زه يې پرستش کړم
دا پروا يې نۀ کړم ځوکه ځان مې فرزانه کۀ

ستا خپلول ګران وو ځکه خپل مې په ژوندنه کړی
هرڅو مې که ځان د خپله ځانه بېګانه کۀ

ګران نۀ وو د ژوند د راز د خوب تعبير ملګرو
پوئ شوم چې شعور مې لا شعور ته هم خانه کۀ

يو دې ګرانه ياد اوبل دې غم ورسره مل وو
وايه ځوان **پرېشان** دې اشنا کوم يو ترانه کۀ



چې زما د کوره وځي، ښېخ دې وځي
چې بل کور ته ننه وځي، ښېخ دې وځي

چې ټول غرونه د وطن يې راته وسول
د نفرت دادې پېلوځي، ښېخ دې وځي

حوَس سيند دی د زقم د اوبو هسې
چې دې سيند ته ځوك پرېوځي، ښېخ دې وځي

چې پښتون وي او د قام په سر ننګ نه کا
تل د دغسې نرښځي، ښېخ دې وځي

د ازغو په ځوکو ږدي خپل وزرونه
لولکۍ د ګل الوځي، ښېخ دې وځي

چې دښکلو سره مينه کړي **پرېشانه**!
په قيصو يې چې تېروځي، ښېخ دې وځي

دجنون د ځنځيرونو په شرنګا کښې
د ستا غږ راځني ورك شو په صحرا کښې

هم دلاسه هم له سپينو سپينو غاښو
ملغرې درنه تويې شوې په خندا کښې

د همت يارانو پاځئ چې مزل کړو
يو مقام ته رسېدۀ دي په دنيا کښې

له ماښام دې چې مې کړنګ د جام په غوږ شو
د سبا ساقي نن څه کاندي خطا کښې

د بيا بيا بيعه دې وکړه چې بيا بيا کړې
زه دې بيا وينم څه بيا بيا په بيابيا کښې

روانېږه اى **پرېشان** چې روانېږو
ژوند خو تېر شو په دې نن او په سبا کښې



د پير محمد کاروان صېب ديو غزل د رديف په زمکه:

ياره که پښتون يې بيا د ښکته اوبر څۀ مانا؟
ګوره راته! نېغ بيا توري سترګې اثر څۀ مانا؟

اى د ژوندون پوهه! دغه کوم وخت پۀ سړي راشي
ژوند په اوږو څه مانا او ژوند وي په سر څه مانا؟

راغى اخيرين او ورته وايي اولين ولې؟
دې سړي نه څوك مراد! د دغه بشر څه مانا؟

دومره بلهاحسن! قدرې ست د خُمار ونۀ کړى
هسې په کوڅه ستا د ملنګ د ګذر څۀ مانا؟

ياره زخمي زړۀ له مې ستا يو نظر کاتۀ بس وو
دومره بانۀ، وروځې او د زلفو لښکر څه مانا؟

تا خو هم **پرېشان**! دعشق په لاره مزل کړى دى
ترمې ترمې اوښکې سوى داغ د ځيګر څه مانا؟

دساقي په سپینو لاسو کښې تش جام شو
ژوندمې هسې حسرتونو کښې تمام شو

چې مې ټول عمر و چاته لاربښودلی
نن د هغه چا په سر مې دا انجام شو

د جانان نه مې د بدو طمع نه شي
دهر چا زړۀ یې ساتلو چې بدنام شو

ای غمونو لړه ویره هم پکار ده
نن له دړده راسره زړۀ هم کلام شو

مړېدل په دیدن نشته تر ژوندونه
څه چې درومو ای لالیه تور مابښام شو

زور طاقت په بدو بر وي ای **پرېشانه**!
هغه څوك چې وو تر نن، نن موامام شو



شین سحر وو شین طوطي وو په شنۀ باغ کښې
شین ساقي له خندا شین شونډې ایاغ کښې

دا زه ناست وم د فراق له غم ژوبل
سرې لمبې مې بلېدې د ځیګر داغ کښې

که هرڅو وي په خوئ دروند خو تل به سپك وي
ناست وخبز چې په ټولي کا د فراغ کښې

اننګونه دې چې بلې لمبې خیژي
ځوانه وینه ده چې سوځي په څراغ کښې

ډېره مینه، ډېر اعتبار ډېر امېدونه
وسوسې راته دېره شوې په دماغ کښې

لکه رنګ زما غزل کښې دی **پرېشانه**!
هسې وینې وینې رنګ نشته ایماغ کښې

○

د ويجاړ ګلشن په سېل عندليب څۀ کا
نه سپرلی شته او نه ګل شته غريب څۀ کا

چې تشخيص مې د مرض نۀ شي کولی
په علاج به مې بې وسه طبيب څۀ کا

ژوند که هرڅو غړوي په خپل وار سترګې
ولې مرګ د ارتحال دا ترتيب څۀ کا

د مستۍ په جام کښې شونډې د هستۍ ږدي
مېخوار تنده ماتوي نور ترکيب څۀ کا

په احساس او په شعور دا تميز کېږي
ګني خلك په شاعر او اديب څۀ کا

چې معشوق په چا مئين وي ای **پرېشانه**!
په منت د ريبار څۀ پۀ رقيب څۀ کا



○

دا يو نظر درګورم چې ارمان کښې پاتې کېږم
لاليه مخ ر[illegible]ړه خفګان کښې پاتې کېږم

اول يې راته وېل چې ماله سترګو کښې ځای راکړه
اوس وايي چې لمده شومه باران کښې پاتې کېږم

هر څو جانګدازي ده که د وخت تورو تيارو کښې
خو بيا هم لکه شمع په امکان کښې پاتې کېږم

بېګاه مې ځان په خوب کښې د بل ځان سره ليدلی
دا ځان چې رانه ورك دی په بل ځان کښې پاتې کېږم

بې قدره شي چې پرېوځي څوك په ژوند د خپل مكانه
زۀ اوښکه قدردانه په ګرېوان کښې پاتې کېږم

نصيب مې بد نصيب چې دې په ځان دې ماتم وکړي
دا زۀ په کوم ګناه په تور زندان کښې پاتې کېږم

کشتۍ مې د ژوندون په ډوبېدو ښکاري **پرېشانه**
د وخت او د حالاتو په طوفان کښې پاتې کېږم



○

که سحر دی د مرغيو چونهار نشته
په ګلشن کښې هسې رنګ د بهار نشته

زماني د ژوند سامان، سامان ګڼلی
د عقبا له غمه هېڅوك باردار نشته

تبسم او ترنم مرور شوي
د بلبل په ژبه هغه ګفتار نشته

لکه روح وکاوه ګشت په خپل وجود کښې
د عرفان او معرفت بله لاره نشته

دا محفل دې بې نمکه دی لاليه!
چې حجره کښې هسې دستار او ستار نشته

دا مزل د ژوندون ستړی دی **پرېشانه!**
که زما په نصيب هسې قرار نشته

د سحر شور وي اهنګین څومره
د غرۀ دا کلي وي رنګین څومره

منصوري خیال کړي غزونې هومره
کړي الوائۀ لکه شاهین څومره

بیاهم شپانۀ خپلې شپېلۍ غږوي
سترې شي دوئ تر ماسپښین څومره

د انتظار لمحې یې زړۀ سوز وي
تاؤ وي د مینې آتشین څومره

دا مړۀ کاتۀ او بیا دې مخ واړاوۀ
ملهم دې راکړل خو نمکین څومره

پرېږده ناورین او د خاورین خبرې
**پرېشانه!** ځان دې کړو غمګین څومره



زړه تر څو به د حسرت په امکان سوزي
په تاودو اوښکو مې یاره ګرېوان سوزي

تېروختونه د وصال رایادومه
دفراق په ورد مې هسې زبان سوزي

لاس مې واخیست انتظار د عقیدې نه
وخته نور مې د جذباتو ایمان سوزي

څنګه ولیکم تاریخ د برباد دور
د قلم ژبه ګونګۍ شوه بیان سوزي

دا حیا ده که غصه ده نۀ پوهېږم
که دې حسن اننګو کښې په ځان سوزي

خیر دی سترګې که کږې کړې پروا نشته
په کړو کتو دې یاره **پرېشان** سوزي

د بام قیصې مې کړې په بام ولاړوم
زه خپل جانان ته په سلام ولاړوم

لکه وي شعر د غزل نیمګړی
په انتظار کښې د الهام ولاړوم

عشاقو وو راپسې نیت تړلی
زه د عشق لمونځ ته د امام ولاړوم

آفتابي حسن ته د ډېره خیاله
فکر مې نۀ وو هم کلام ولاړوم

شاهانه خوب مې لید، راویښ چې شومه
د عالم مخې ته غلام ولاړوم

شپې د جنون **پرېشانه** راغلې په سر
د خیال کوځه کښې د خیام ولاړوم



نزول شعر چې د عرش له جګه بامه نۀ وي
زه داسې نه لیکمه څه چې د الهامه نۀ وي

ماته به نۀ شي که ساقي دریاب په سر واړوم
د تندې ګوټ مې چې څکلی ستا له جامه نۀ وي

زما په ژوند کښې به وي داسې ورځې کمې اشنا
چې ستا یادونه راسره ګامه تر ګامه نۀ وي

دا زاهدان خلوت نشین په خپلو برخو غلي
ناست وي د زړه په کوه طور کښې خوبې پامه نۀ وي

په هریو بیت کښې یې وي څه نه څه قیصه ساتلې
د شاعر شعر معنوي وي بې پېغامه نۀ وي

د داسې چا سره مې زړۀ نۀ کړي کلام **پرېشانه!**
څوک چې خبر مې د قلم او د کلامه نۀ وي

څوك چې ستا له نظر پرېوځي
لکه جګ په کمر پرېوځي

لږ نظر کا په شرابو
چې پیاله کښې اثر پرېوځي

زړۀ مې پرېوت حیران نۀ یم
دا چې پوخ شي ثمر پرېوځي

په دا شان اوښکې سینه ته
لکه سیند ته ګوهر پرېوځي

ستا څۀ خیال دې چې به روغ شي
چې پرهار ته خنجر پرېوځي

د **پرېشان** خوار قسمت ګورئ
ځي په سمه په غر پرېوځي



زه وائیم چې زه یم چې تور تم لره پېدا یم
څه لره پېدا وم دا څه غم لره پېدا یم

مونږ اوس دیوبل نه بېلېدونکي خلك نۀ یو
ماله صنم او زه صنم لره پېدا یم

ماله د پرون د ټوپك مارو قیصې مۀ کوه
زه د نن پښتون یمه قلم لره پېدا یم

دا د زماني بد سلوکي د برداشت نۀ ده خو
خبر دی چې انسان یمه نو زغم لره پېدا یم

ځکه خو ګلشن کښې د بلبل چغار په برخه دی
ګل ورته وئیل چې زه شبنم لره پیِدا یم

نوري دې په چا باندې دا دوه سترګې لګي که نۀ
یاره که **پرېشان** یم چې ستم لره پېدا یم

زړۀ مې ستا دعشق له تاوه بهر نۀ شو
که هرڅو يې صبروم خو صبر نۀ شو

ژوند مې تېر شو د هجران تورو تيارو کښې
پۀ ما کله ستا د وصل سحر نۀ شو

پۀ ساده حسن د چا چې تل سوزېږم
ښه پوهېږي خو لمانه خبر نۀ شو

په رندانو عنايت دروازې بند شوې؟
که پۀ ما د ساقي هسې نظر نۀ شو



څۀ بلا يم؟ و خپل ځان ته حېرانېږم
چې مې چاود له همه درده ځيګر نۀ شو

اسان نۀ وو مزل ستا دعشق په لاره
راته پېښ په دغه لار کوم خطر نۀ شو

دۀ د شعر په عشق کښې دا جهان بائيللی
ځوان **پرېشان** که چرته خوار په محشر نۀ شو

تصور دې د سپين مخ ګڼه په سودا کړم
اوس چې څوك پۀ لار راځي ورته وېنا کړم

تبسم دې هسې څومره دلفرېب دی
پۀ خندا دې بېګانه له دې دنيا کړم

د ګلشن وسېل ته ځم له بدې ورځې
پۀ ګلونو باندې مينه د اشنا کړم

ماوېل نۀ ده چې ورې حيا دې وکړه
وېل يې نۀ، دا خو د مينې ابتدا کړم

زه په کوم هنر ترې وړې زړګی واخلم
د جانان د غلچکو سترګو نه غلا کړم

يار وېل ستا به چې څۀ حال وي نن **پرېشانه!**
دا خو زه درته په سپينه خله دعا کړم



سلګۍ به دې له شونډو تر مژګانه رسوم
هر آه به دې زړګيه تر جانانه رسوم

په مينه کښې د صبر انتظار قناعت نۀ شي
لاسونه د جنون نور تر ګرېوانه رسوم

شمله به دې وطنه! چاته ټيټه په ژوند نۀ کړم
تاريخ ستا د باتورو ترجهانه رسوم

په خيال کښې دې چې هر کله د ګېو زلفو لاړ شم
بيا ورك وي رانه ځان چې ځان تر ځانه رسوم

زر زر چې رانه زر غواړې زر زر رانه زر نشته
يو وخت تر بله وخته ډېر په ګرانه رسوم

مزل که مې هر څو په دغه لار اوږد شي **پرېشانه!**
غزل به "جهاني" او تر "کاروانه" رسوم

د کوم ژوندون په هر يو پل چې امتحان پروت دی
تاوان دی پروت خو پۀ دې لاره کښې جانان پروت دی

لا مې نغمې د زړه د باغ بې ترنمه نۀ دي
لامې شعرونو کښې حیات پروت دی داستان پروت دی

څوك تماشه مو د ادب د بهیر ولې پرېږدي
له د شعرونو (جهاني) له خو (کاروان) پروت دی

لما قیصه ولې د مینې د سپرلي پټوې
د محبت راز دې په سترګو کښې عیان پروت دی

حالات سینې د نوي دور په لمبو سوزوي
رېښې ریښې د وخت لاسونو کښې ګرېوان پروت دی

تاله به زه "دړد او بهیر" له خزانو ډکوم
له جمعیت مې د فکرونو **پَرېشان** پروت دی



که بېرون مې څو خاموشه دې سنسان دی
کور د زړه مې د نغمو په شور ودان دی

نور عالم ته مې نیاز نشته ای زاهده!
زړۀ مې داسې مست په حسن د جانان دی

نۀ یې لاره ده معلومه نۀ یې خاپ شته
یار بوولې په کوم لور د ژوند کاروان دی

بې ننګي به مې نیکۀ نۀ قبلوله
سردې وخورم که زما د سرتاوان دی

چې کوم شعر مې د "دړد او بهیر" ګورې
دا زما د ژوند تفسیر دی چې بیان دی

می خو نۀ ځښنم ځانته غلې شاعري کړم
په **پرېشان** دا عالم ولې بدګمان دی

ځان دې د کوم يو تصور نه بېګانه کړم
ستا يادونو خو جانانه دېوانه کړم

لکه سيوري مې په هره لاره مل يې
ځان سره دې لکه عکس هم خانه کړم

وړي مې بيا د خيال بهير په کوم لاره
زړۀ ښاروان د کومې دشتې افسانه کړم

محو خيال ومه هر وختې په خپل خيال کښې
تصور دې سوي لوې مستانه کړم

ترنم به شم په هر چا به خوږ لګم
خو که تا پۀ خوږو شونډو ترانه کړم

د دلبرې منت بارېمه **پرېشانه!**
په هنر هنر يې پوئ په يارانه کړم



شبنمي هوا پۀ سپېل د ګلشن راغله
تازګي مې د زړګي په چمن راغله

اظهار څۀ وو بس چې يار ته مخامخ شوم
يوه اوښکه ناڅاپي په لمن راغله

ځوان ارمان مې راته وژني څه به کېږي
جدايي راپسې لاس په کفن راغله

ښاپېرۍ زما د خيال له کوه قافه
چا تړلې وه؟ چې داسې زولن راغله

تلذذ مې کړو محسوس په تصور کښې
څوک د خيال د چشمه سار په وطن راغله

د ژوندون د باغ د خوب تعبير **پرېشانه!**
د قسمت غوټۍ په ګوتو ازغن راغله

دا زه هسې رنګ اخته په عذاب چا کړم
لکه اور يې اندرون په غراب چا کړم

دا مې څاڅکی د جمال تر نظر تېر شو
که لاهو هسې د عشق په درياب چا کړم

په فرياد مې بلبلان له چمن تېښتي
سوزو ګداز د شپېلۍ چا د رباب چا کړم

چې عالم مې ټول په راز و نياز خبر شو
دا و مخ ته غوړېدلی کتاب چا کړم

څنګه نن د زاهدانو هم نشين شوم
په مانا پوئ د ګناه او ثواب چا کړم

زه **پرېشان** دا همه واړه بې سببه
درد آلود خوار په وجود او غرقاب چا کړم



زما د خيال د مست رباب نغمې حساب نۀ لري
فکر مې ځوان دې که هرڅو ځواني شباب نۀ لري

لمحه لمحه ژوند يې په مونږ سور قيامت جوړ کړي
کومه ادا ده ستا جانانه چې عذاب نۀ لري

لکه حباب د دريابونو د جهان په مېنځ کښې
پټې معنې مې ژوند لري ښکاره هيڅ باب نۀ لري

زمونږ وطن خو د ننګونو د تاريخ وطن دی
کومه يوه لوټه يې د قهر انقلاب نۀ لري

لکه چې اوښ شي په صحرا کښې بې مهاره روان
هغه ژوند نۀ دی چې کړاو او اضطراب نۀ لري

کالونه وشول چې په غرونو بارانونه نۀ شي
هغه سيندونه موجزن نۀ دي ګرداب نۀ لري

دا مېخانه ده دا د درد او دتهکور ځای دی
ځوک دی؟ چې دلته ساقي زړه خانه خراب نهٔ لري

زما د قام بچي به څنګ په سمه لاره سم شي
چې ځوک قلم ګوتو کښې ځوک لاس کښې کتاب نهٔ لري

نوې نشه مې په ګردش کښې ګرځوي فکرونه
داسې نشه ده چې مې زړه ترې اجتناب نهٔ لري

حسن خو حسن دی د حسن په باب څه اووايم
دا داسې سوال دی چې معنې لري ځواب نهٔ لري

له خو مې وينې په رګونو کښې غرمبارې وهي
دا درته چا وېل چې **پرېشان** ستا دغم تاب نهٔ لري



کاروان روان دی د اوښانو جوړ بهير ښکاري
د غرهٔ لمنې ښائيسته لکه کشمير ښکاري

انځورګر غم ديار سترګو کښې باران راوستی
د اوښکو رود يې په سپين مخ لکه ځنځير ښکاري

ستا په کتو کښې خو ساقي نوی تاثير ښکاري
اشارتونه دې د سترګو نن شرير ښکاري

کوم صورتګر پرې زخمي کړې له ناکامه ګوتې
قلم مستر په وينو سور ديار تصوير ښکاري

شرق ته د شرق په ژبه وايو د **خپل** شرق سندرې
زمونږ نغمات خلکو ته ځکه دلپذير ښکاري

**پرېشانه!** ما نه به د ژوند په اړه څه پوښتي ځوک
زما غزل کښې بس زما د ژوند تفسير ښکاري

ناز کوه د حسن باغه
ای ګل ګل مېنا اياغه

د تاودو لمبو دې زار شم
ای زما دځیګر داغه
ستا ادراك كښې بې ادراكه
ځانته ګرځم بې ځراغه
داسې زر دې څنګه هېر کړم
په جانانه بد دماغه
ځاله چا کړه درنه ورانه
ښېرې چاته کوې زاغه
ل او ب او که رخسار دې
په رنګ تېز دې له ایماغه

د خبرو په کشش دې
**پرېشانه** خلاص شوم له فراغه



چا وئیل چې سترګې د باز نهٔ لري
تور بانهٔ له تورې دراز نهٔ لري

چغې مې که هرڅو ورته وکړلې
دا خو پښتون قام دی اواز نهٔ لري

ای دیار دعشق دریابه ډوب يې کړه
بیا د خیال سوارهٔ مې شناز نهٔ لري

نهٔ کووم مزل د داسې چا سره
څوك چې تصور د پرواز نهٔ لري

مینه د دوو زړونو صفایي کوي
کله چې رقیب او غماز نهٔ لري

راشه دا **پرېشان** زړګی مې وګوره
چا ویل چې د مینې جواز نهٔ لري

په بيا بيا کښې سره بېل شوو بېلتون راغی
ناګهانه په سرو ګلو رېژون راغی

سور سحر د انقلاب ته انتظار دی
په جذباتو کښې د ننګ مې چاودون راغی

يوه غمګينه شان نشه مې په سر راشي
عشقه پوئ شوم پۀ ما وخت د جنون راغی

خدای دې خبر کړي اوښان بيا پۀ غربدو شول
د کاروان په تسلسل کښې سکون راغی

ټوله شپه مې ستا په ياد کښې شوګيره کړه
چې سحر شو سر زخمي په زنګون راغی

ستا د سترګو له دې دوه توريو صنمه
د **پرېشان** خيال ته رنګين شان مضمون راغی



ستا د حسن د سرور په تماشه شوم
خبر نه شومه بې ځايه ديوانه شوم

ستا د حسن ديو څاڅکي په درياب کښې
فلسفي شوم ګډ د ژوند په مېخانه شوم

د شعور تر حد مې سترګې پرانستلې
د منطق د عقل ورکه فلسفه شوم

آزادي راته محسوس شوه تصور کښې
خدايه! ستا تخليقِ نور کښې مستانه شوم

د غرور او تفکر بالاخانه کښې
ستا د خيال تصوير ته ډېر فنکارانه شوم

**پَرېشان** شوم لکه وريځې په آسمان کښې
خپل باغي فکرونه خور دانه وانه شوم

زما ژوند خو اضطراب دئ
سره نغمه سوې رباب دئ

بې لتا نه چې تېرېږي
هريو پل په کال حساب دئ

ستا د شونډو چې کوم سوال دئ
ستا لېمو کښې يې ځواب دئ

چې د ژوند حساب مې وکړ
تش يو څاڅکی دحباب دئ

دا زما سوزن فکرونه
دا يو مست شان انقلاب دئ



تخيل مې مستانه دئ
تغزل مې په شباب دئ

د هجران د زور و زغمه
د زړۀ زخم مې خوناب دئ

خوار **پرېشان** دې مري له تندې
سر يې ايښی په سراب دئ

چې ځکلي مې د سرو شونډو مې ناب دي
پرهارونه مې د زړهٔ ولې خوناب دي

تابه ور نهٔ کړم په یو صورت وطنه!
له رګونو کښې مې وینې د شباب دي

پښتانهٔ کمزوري نه دي ای اغیاره!
په هر ځای کښې ستا د سوال او د ځواب دي

بلبل ګوره په ښاخ ناست نغمه سرا دئ
ترانې د آزادۍ یې د ثواب دي

د سقوط اثر مو نهٔ دی قبول کړی
له نغمې مو د ژوندون په اب وتاب دي

چا چې وینې د وطن په نوم ورکړي
ای **پرېشانه!** هغه خلك تل کامیاب دي



محبت چې انتها ته ورسېږي
د نظر رڼا ، رڼا ته ورسېږي

احساسات او جذبات دواړه لیوني شي
زور د عشق چې و فنا ته ورسېږي

د خپل خیاله سره مست شم په هوا شم
د جنون غږ مې دنیا ته ورسېږي

مالیږلي دی ریبار د یار وطن ته
یا به نن یا به سبا ته ورسېږي

خدایه څنګ به امن راشي دې وطن کښې
بس دا فکر مې سودا ته ورسېږي

هغه ورځ به د محشر وي ای **پرېشانه!**
چې جزا خپلې سزا ته ورسېږي

تـوره تيـاره وه قلـم چرتـه كتـاب چرتـه پـروت وو
څه مې وئيل خو مضراب چرته رباب چرته پروت وو

مـا ټولـه شـپه لكـه ازغـى كـړه پـه ولاړې تېـره
خداى ترې خبر چې هغه ګل د ګلاب چرته پروت وو
نن ديو ځوان قبر ته ناست ومه دا سوچ مې كاوۀ
هډوكي چرته وو پراتۀ او شباب چرته پروت وو
زړۀ كښې جانان او په مغزو كښې مې محراب ګرځېدۀ
مينه او غم وايه اى شېخه! ثواب چرته پروت وو
چې قضا كړي ديدنونه به مو نه شمېرل په يوبل پسې
زما او ستا ترمېنځه داسې حساب چرته پروت وو
د دنيا خلكو ما خو ژوند يو جګ عرفان وباله
تاسو چې وېل چې دا سراب دى سراب چرته پروت وو

ظالم دلبر دې پۀ بلې هرڅو نخرې كولې
**پرېشان** دې هرڅو په خانه كښې خراب چرته پروت وو



د اروا ښاد صاحب شاه صابر ديو غزل په زمكه
((دا څوك چې جنګ غواړي................))

ساده د لبر دخپل ښائيست له زوره نۀ دى خبر
د خپل جمال د سپين جبين له نوره نۀ دى خبر

دا سړى هم ځكه ګرځېږي پاكې سپينې جامې
د حورو خيال كښې محبت له توره نۀ دى خبر

اى اباسينه مست موجونه دې بل لورته يوسه
غافل پښتون ستا دشعور له شوره نۀ دى خبر

د دغه ورود وركې هم ځكه تپوس نۀ كېږي
دئ هم همدغه وخت د خپله وروره نۀ دى خبر

چې يې قسمت دې نړولى د زړګوټي كور ګئ
خلك دې وايي چې **پرېشان** له كوره نۀ دى خبر

هر ستمګر د زماني راپسې وژړېدۀ
په خپل ستم په پښېماني راپسې وژړېدۀ

ساده جانان ما دلوګيو ښار ته کله بوتلو
جوړې کړې سل زر بهانې راپسې وژړېدۀ

ساقي که وکړه بې رخي هرڅو يې ست ونه کړو
پياله هر جام د مېخانې راپسې وژړېدۀ

بلبل چې هم فرياد زما د زخمي زړۀ واورېدۀ
بس يې کړې خپلې ترانې راپسې وژړېدۀ

برباد انځور يې چې **پرېشان** د وطن وليدلو
هر يو تصوير د ويرانۍ راپسې وژړېدۀ



چې دعشق د لېونيانو په افسون يم
په دانه وجود کښې څومره را زرغون يم

د خيال حورې مې سينګاروي ستا له ياده
هر ساعت چې ستا د خيال نوی مضمون يم

که معنې رانه د زده ټکو شوې هېرې
چې له دړده پر هر زړۀ په ځيګرخون يم

زړۀ څاروان اوحوصلې مې د کاروان دي
د همت په مزل بوخت د هوا شپون يم

پښتنو په پښتنو کړې پښتنۍ ماتې
زړه مې بد شي چې اوس وايم چې پښتون يم

مجنون هيڅ شه چې جنون يې همراز نۀ شي
زه **پرېشان** همه له دې رازه جنون يم

---

راکه پياله ساقي مستانه
چې مست خراب يم او ديوانه

نن نۀ زاهد شته او نه واعظ
راشه مابنام مې کړه رندانه

عشق پرستي ځان خونرېزي ده
حسن پرست زړۀ کړم فرزانه

نۀ مې څوك مل، نه د چا مل شوم
ګرځم په دشتو خوار يګانه

دور چې شي نفس، دُر شي پېدا
**پرېشان!** درون شي ټول دُردانه



---

دړد د ځيګر دئ
خوني اثر دئ

ساز د عرفان دئ
حسي محشر دئ

لويي دې لويه
ورك مې نظر دئ

ډيوې يې مړې کړې
څنګه سحر دئ

پګړۍ يې نۀ ده
غم يې په سر دئ

چې چپه خله دئ
**پرېشان** خبر دئ

چې مې صنم کړي خبرې شوخې
ښه ده شبنم کړي خبرې شوخې

دغه ګیله خو مې له سپوږمۍ وه
نن خوا نجم کړي خبرې شوخې

سترګې یې تورې شونډې یې نورې
طرز قلم کړي خبرې شوخې

در او در هم دي بل یې ځواني ده
زلفې برهم کړي خبرې شوخې

صنف د ښځو نازك ګویي كا
**پرېشان** هردم کړي خبرې شوخې



مونږ په سندرو مئین خلك یو نغمې خوښوو
د عشق له سوزه سوې سوې ترانې خوښوو

زمونږ نه دواړه کاره کېږي دیو کار څه مانا
دیار د زلفو کمڅې شمېرو هم تسبې خوښوو

زمونږ نظر کښې بدرنګي د مصور نشته دی
په ښکلي مخ کښې خپل ځان ګورو آئینې خوښوو

لکه شاعر مونږ خاموشي په شور کښې ژوند کړی دی
ځکه خو اوس هم دخیالونو جزیرې خوښوو

**پرېشانه** بلې ساته تل د سرو زخمونو ډیوې
ړانده خونۀ یو چې داغ داغ تورې تیارې خوښوو

همه راز یم همه ناز یم همه ساز یم
همه ساز یم هم ناز یم همه راز یم

که مې ژوند ازغي ازغي دی په تضاد کښې
د فطرت له رویه هسې ګل انداز یم

زه دیار دزړۀ ایاز یار مې محمود دی
یار زما د زړۀ محمود زه یې ایاز یم

په قدم قدم په ما انجام ریزي کړي
عشقه زه دې له اوس نوی په اغاز یم

بې زحمته مزمته مزل هیڅ شه
څو چې سر په جګو غرونو لکه باز یم

همه دړد یم هم ستا د لاري ګرد یم
زه **پرېشان** ستا دهستۍ په دې جواز یم



د مینې سوال دې اشنا کوم ښاپیری خیال ته راوړو
پوی شوم خبر شوی چې دې نوی رنګ جمال ته راوړو

که دمجاز دنیا هر څومره ترکمال لاړه شي
خدای د زوال د سودا فکر هر کمال ته راوړو

پکار خو داده، چې دحال غم په خپل حال کښې وشي
دا خو به بوج شي چې راتلونکي غم دې حال ته راوړو

د پښتنې سترګې حیا ستا د نظر شرمېدۀ
نوې معنې نوې مفهوم دې لکه سوال ته راوړو

د جبین لمر کښې توره شپه، په توره شپه کښې ځلا
پاړ دې **پرېشان** د سووشوندو اشنا خال ته راوړو

عشقه په اور څۀ کوې
مړ دې کړم نور څۀ کوې

اوس زما زړۀ کښې يار
پرېږدوه کور څۀ کوې
غټ کارونه پټ کېږي
په ځوانه شور څۀ کوې
اووې قائد اعظم راته
زه چې يم ورور څۀ کوې
زړۀ دې چې لونۀ کوي
لوټه او لور څۀ کوې
شېخه تۀ! او دا کوکې
مۀ کړه حضور څۀ کوې

دا **پرېشان** په زړۀ سپين دی
رنګ يې تک تور څۀ کوې



امېد نشته چې د ورځې به لمر وينم
زه خو هسې تل په خوب کښې دلبر وينم

جمال هغه چې يې زه په تکل ړوند شوم
هغه نۀ چې يې په مخ د بشر وينم

چې په ځيرو سترګو خپل ځيګر خون ګورم
له به څه وائيم رښتيا چې محشر وينم

دا سپين مخ يې تورو زلفو کښې ځلا کا
که په وريځو د اسمان کښې قمر وينم

دا چې هر څوك راته زړۀ په زړۀ کښې سوزي
نور څه نشته په خپل ځان کښې ثمر وينم

لمر که سل ځله مخ پټ کا په سحر کښې
حقيقت د سحر دا چې سحر وينم

چې سحر سترګه راخېژي، ماښام ګرځي
لنډې ورځې دي د ژوند په دوام ګرځي

د شعرونو د باران توري را اوري
نن مې بيا د خيال اسمان کښې الهام ګرځي

د يزدان د رضا رنګ يې وو جلال کښې
د علی ؓ تُوره چې بېرته په نيام ګرځي

اقتداء د خپل امام وکړه دلبره
مخ راواړوه لمانځۀ کښې سلام ګرځي

په بل چا پورې خندا ښۀ نۀ ده خلکو
اورېدلي مې دي دا چې ايام ګرځي

بس چې را دې کړو ساقي اوس تشوم يې
د **پرېشان** د لاسه کله ډک جام ګرځي



د عشق چارې په ځيګر خون دي
داورکې لارې په ځيګرخون دي

فرياد کړم ځکه يار مې په زړه بيا
ښخې نوکارې په ځيګر خون دي

شاعري څه ده؟ د غم خندا ده
سوې کوکارې په ځيګر خون دي

غوارې ديدن د نرګسي سترګو
سترګې غمخوارې په ځيګر خون دي

نرخ يې چنار شو اوس تربې ګرځه
پيالې مېخوارې په ځيګرخون دي

د **پرېشان** ورځې دي ناقرارې
شپې اشکبارې په ځيګرخون دي

○

زړۀ مـې چـې دیـار کلـي کښـې خـوښ دی
درد نـو د پرهـاد کلـي کښـې خـوښ دی

بیـا مـې نظـر سـتا لـه سـترګونه اوړي
شـېخ دی د خمـار کلـي کښـې خـوښ دی

یـوه مـې پښـتون یـاره سـتا شـړی خوښـه
بـل مـې سـتا دسـتار کلـي خـوښ دی

بـل وجـود لـه دې کـرب نـه ځـان ژغـوري
ګـل دی چـې دښـار کلـي کښـې خـوښ دی

زه غـوارم ژونـدون دیـار ترخنګـه تـل
هسـې خـو خـروار کلـي کښـې خـوښ دی

دا سـړی نـاخوښ دی چـې **پرېشـان** دی
دا چـې همکنـار کلـي کښـې خـوښ دی



○

یـار چـې د عشـق لـه اصـوله وځـي
درد مـې د زړۀ پـه هـره پولـه وځـي

ښکلیو تـه ځای مې کـه پـه زړه کښې ورکړو
پـردي مالونـه دي لـه شـپو لـه وځـي

ملنـګ یـوه روپـۍ پیـدا کـړه پـه خواسـت
هغـه یـې هـم اوس لـه کچکولـه وځـي

دغـه د زړۀ قـرار مـې څـوك دی خدایـه!
دا چـې مـې سـاه وریسـې ټولـه وځـي

لـه هغـه چـا دخلـې، چـې سـوچ نـه لـري
هـره خبـره تـرې بـې تولـه وځـي

دېوال خـو شـته کـه تنهـایي ده **پرېشـان!**
د زړۀ قیصـه دې کـړه راټولـه وځـي

چې له زړۀ مې دیار غم مرور شوی
د ګلاب غخه شبنم مرور شوی

د رقیب د کوځې سپي څۀ مرور شول
چې اوس ګوره پوره چم مرور شوی

د سینې وېښته مې وختل له بیخه
د رنو اوښکو موسم مرور شوی

بې رخي چې رانه ستا د مروره
سم دلاسه مې قلم مرور شوی

چې د فکر په اسمان مې توره شپه ده
دا زما د خیال انجم مرور شوی

دا هندو دلته **پرېشانه** ځکه ژاړي
بتخانه کښې تري صنم مرور شوی



تېروخت مې که لږ نور معصوم جذبات وژړوي
نغمې به مې د سوزو ساز الات وژړوي

ښېرې به کوو دا چې خدایه مېله یې جمات شه
چې څوك د پښتون خاوره او جمات وژړوي

ارم او حرم دواړه به یې تېر شي له نظره
انسان که سترګې خلاصې کړي خپل ذات وژړوي

دا شوق جستجو او دغه لوړ ژور فکرونه
جنون به مې اسرار کاینات وژړوي

جهان که رانه مخ واړوي هیڅ پروا مې نۀ وي
اشنا ستا بې رخي مې زړګی زیات وژړوي

**پرېشانه** دیار سترګې شات او شونډې خرابات دي
خدایه مۀ کړه چې څوك شات او خرابات وژړوي

دړدونه مې راوړي د زخمونو په سينو کښې
خوشبو خواره وره ده د ګلونو په سينو کښې

حالاتو که هر څو راکړل په زړۀ سوي داغونه
ملهم وي د زخمونو د وختونو په سينو کښې

رقيبه! ما هرچا سره په ډکه خُله خندلي
ځای کړی مې دی ځان خپل دزرګونوپه سينوکښې

چې وايي چې ستاسترګو کښې مې ساه تن کښې ډوبېږي
بيا څه غواړې جانانه د سيندونو په سينو کښې

وطنه ستا په ننګ هرکاڼې کلک لکه سندان دی
اعجاز دې ستا د مينې ستا د غرونو په سينو کښې

**پرېشانه** چې بيان دی کړ مضمون بيا رنګين هسې
رښتيا چې وي لعلونه د لعلونو په سينو کښې



جام کښې شراب څۀ کووم شراب راکه پۀ جام کښې
ساقي خانه خراب زړه ته خراب راکه پۀ جام کښې

جانانه هسې نه چې هم دا اوس له تندې ومرم
بس راشه هم دا اوس راته درياب راکه په جام کښې

زه لولمه د عشق دا فلسفه په خرابات کښې
زاهده! د غني د شعر کتاب راکه پۀ جام کښې

جانانه که دميني ګناه نه شي درنه وايه
نن ماته مې د سترې ژوند ثواب راکه پۀ جام کښې

**پرېشان** وايي چې شونډې دې اشنا دګلاب ګل دی
خېر ګل که نه وي سيوري د ګلاب راکه پۀ جام کښې

بس دا زه، دا مې نغمات دي
دا د سوز و ساز آلات دي

اتفاق به دې حيران کړي
غرونه څۀ دي خو ذرات دي
ماته هر يو لور کعبه شي
ملايان تش تر جمات دي
وېل يې سترګو کښې مې څۀ دي
ماوېل سترګو کښې دې شات دي
ځکه اوس کلي ته نۀ ځم
کهنډراتو کښې جنات دي
چې مې خوښ دي پۀ غزل کښې
تشبيهات او کنايات دي

خوار **پرېشان** به څنګ الوت کا
چې د خيال وزر يې مات دي



زما د دړد له قيصو خوند اخلي
غرضيان خلك دي خپل قند اخلي

خوارۀ بادونه د دنيا به نۀ وي
د زړۀ زخمونه چې پېوند اخلي
زړه مې ورکړی دی هم سر مې ترې زار
له خو يار مينه کښې سوګند اخلي
ملا زما دعشق نه نۀ دی خبر
په ما فتوی د دېوبند اخلي
وړانګې د لمر مې هم غمازې شولې
له زخمي سره مې مړوند اخلي
د وطن ننګ يې وينه مسته کړله
پښتون زلمی لاړ کمربند اخلي

دا پرېشاني خو زما راز دی **پرېشان**
ډېر شتمن خلك رانه پند اخلي

په عشق کښې چې له ذاته سور خمار نهٔ شي سړی
دا هسې لېونتوب څهٔ چې په دار نهٔ شي سړی

د حسن مصور ته هسې تلل نهٔ دي اسان
تر څو چې عن د حسن طلبګار نهٔ شي سړی

سپرلي وي له فطرت خو د ګلو قدر بويه
څوك څه پېژني کله چې ماليار نهٔ شي سړی

زما تريخ تصور يې چې د ژوند په خوارۀ پوئ کړو
بايد چې دې د زلفو ګرفتار نهٔ شي سړی

انسان دی که حيوان دی زه او تهٔ يو چې يې بوخت کړو
په هسې دغه لارې بد کردار نه شي سړی



دا چې ښکلي نن ژوندي دي او ساه اخلي
هو رښتيا سپوږمۍ د لمر نه رڼا اخلي

هغه يار رانه مرګ څه بې پروا اخلي
عاشقان يې چې د سر په سودا اخلي

د بانو څوکې يې وروځو ته نېږدې شوې
دښمنان مې ديوبل نه سلا اخلي

چې مې سترګې ديار وليدې عاشق شوم
خطا اخلم او که نهٔ چې خطا اخلي

دا د خاورې پېمانه دا دومره حجم
په کوم ظرف درياب مستي او ګدا اخلي

يار خبر کړئ چې **پرېشان** دې لاړ ملنګ شو
درله رادې شي که چرته دعا اخلي

○

د خیال په تار مې بیا څو ترانې ونښېدې
د عمر په زندان کښې زولنې ونښېدې

کعبه ته دې د مخ شول ټول رندان په تعظیم پنډ
محراب ته دې د شونډو پېمانې ونښېدې

اشنا زما او ستا د محبت قیصه رنګینه
که خدای کړل ورته ډېرې افسانې ونښېدې

د خلې نه مې دا کوم کلمات وتل بې پامه
په ورد یې چې د ښکلي عرش پردې ونښېدې

غاښونه دې وو خله کښې که غمې د سلېمان
کتاب کښې مې د شعر دُردانې ونښېدې

**پرېشانه** چې دې اوښکې بیا په مخ بهیر شوې
په سترګو کښې دې کومې زمانې ونښېدې



○

که هرڅو درته په زړۀ او په خله یو شوم
ولې بیا دې هم په سترګو کښې له خوشوم

تل چې ګشت به مې کاوۀ په زېړو ګلو
پروا نشته که زخمي په سرو ازغو شوم

د بانړو په تېرو تورو دې حلال شوم
ګرفتار دې په خوارو ورو ګېسو شوم

لمر، شپوږمۍ، ستوري، سرخي د ګلاب څۀ ده
سمندر یمه د حسن په څپو شوم

چې مې تریخ تصور ګډ کړو خپل غزل کښې
د دړد مندو په لېمو کښې د کتو شوم

چې د سپین مخ په رڼا پسې کنار وم
له خودایمه **پرېشان** د تورو شپو شوم

له ازله په مزل يم له خو دا يم
نيږدی چرته تر منزل يم له خودايم

هغه مينه مې چې کړه د پري وِشو
هغه ياره چې پاګل يم له خو دا يم

ستا په سر مې سر ورکړی خو مړ نۀ يم
زه دې هغسې اتل يم له خو دا يم

سور خمار مې ستا د شونډو نصيب نۀ شو
د رندانو سره مل يم له خو دا يم

دا دنيا راته زندان شوه په کښې پروت يم
چې د مينې په تور غل يم له خوا دا يم

د حمزه شوم نۀ د مشکو د کاروان شوم
د **پرېشان** ستړی غزل يم له خو دا يم



د هجران له غمه کله به ووزګار شم
چې ديار په سپينه غاړه باندې هار شم

نن يې ويل چې ستا د شونډو نغمګی يم
خدای که زه هم زمزمه په بل يو تار يم

د هاغۀ عشق به لائق شم هسې کله؟
چې په ديد ديد کښې اشنا وته ديدار شم

دا يو څوك په ما را زده کړي چې انسان يم
ګني نۀ چې له فطرته بدکردار يم

دا خو ستا دلمن باد وي چې ما يوسي
زه **پرېشان** چې په تا تېر شمه خمار يم

نښېدل يَوې ذرې د وجود څۀ دي
كاينات هغه هرڅه دي چې هيڅ نۀ دي

دا تاوده سيلۍ زما تود اسوېلی دی
دا چې زړونه د غمازو پرې ساړۀ دي

زه ددې چمن په راز باندې پوئ نۀ شوم
بس خو دا چې، په يَوۀ لور خوځېدۀ دي

عشق مې څۀ دی ستا د حسن لېونتوب دی
ديو څاڅكي په درياب كښې بهېدۀ دي

زه د دړد د فلسفې په يقين زغلم
ما ليدلي په تراخو پسې خوارۀ دي

څه جواز لري، كه نه د **پرېشان** ياره!
تور لېمه دي چې بيا دغسې كارۀ دي



سمه ژړا مې هم ترڅنګ د لب خندا سره ده
جانانه ټوله زندګي مې د ژاړا سره ده

زه د صحرا داوښ پشانې ژوندون نۀ تېروم
زما ياري د جګو غرونو د عنقا سره ده

چرته چې نوم د پښتو ورك شو دحيا نوم ورك شو
هلته د ژوند لمحه لمحه مستې ګډا سره ده

شېخه! په كوم جواز د مينې نه توبه وباسم
دا پښېماني خو د ګناه او دخطا سره ده

په زوره چا دي د پردې مياندې زامن خپل كړي
**پرېشانه!** مينه د دوو زړونو د رضا سره ده

ستا نن کاتۀ د نن نۀ د پرون، نۀ د سبا وو
په رمز کښې دې د سترګو نن وختونه نا اشنا وو

بیا هم ستا ژړغوني کېفیت په ژړه پوئ شوم
په لید کښې په ژړا وو په شالید کښې په خندا وو

دا اوس مې چې په سر د فراق سرې لمبې بلېږي
د وصل په نشه کښې رانه کوم یو لمونځ قضا وو

حېرت پرې څه پکار دی که یو څوك چرته پیدا شو
راتلو به دې دنیا ته چې ازل کښې روح پیدا وو

هرڅو به که جانانه تا کتل خپلې سینې ته
ګذار دې د بانو هریو زما تر زړه رسا وو

دا نن مې چې **پرېشانه!** ځان دیار ترخنګ لیدلی
دا خوب مې لید په ویښه که دا خوب مې په رښتیا وو



ستا نظر مې ورته پام کړي
دا یو ګهوټ مې لاله فام کړي

لکه زه عشق کښې ناکام کړم
بل به هسې څوک ناکام کړي

دا دې دور په تیارو کښې
څوک به وي؟ چې رڼا عام کړي

شهنشاه نه دې څوک بویه
چې انسان د ځان غلام کړي

رنځ د عشق مې کم نۀ شو
ورځ تر ورځ هسې دوام کړي

نور عالم کړي هسې لافې
دا **پرېشان** دی چې الام کړي

○

د زمانې تربګنو سترګو کښې يم
بيا د وحشت زولنو سترګو کښې يم

په نورو سترګو کښې مې ژوند نهٔ کېږي
زه د اشنا پښتنو سترګو کښې يم
د ژوند د څاڅکو سمندرته ځمه
څوکه د وخت مېلمنو سترګو کښې يم
د ننګ په کار يم نازولی زلمی
له د خوشال مېړنو سترګو کښې يم
دا چې په سترګو مې رڼا را درومي
ښکاري چې اوس څېلنو سترګو يم
ټول لېوني هم لېوني خو نهٔ وي
هسې د چا لېونو سترګو کښې يم

تابه چې سترګې خو بدلې نهٔ وي؟
**پرېشان** هغو پخوانو سترګو کښې يم



○

چې په خندا شي مئين، سوی لړمون ښايي
ګلاب چې واه شي په خون، د زړه چاودون ښايي

غماز دې تل وي ژوندی، زما نادان دلبره
زمونږ د زړونو ترمېنځ، چې پېوستون ښايي

چې چا کښې ظرف وي هغه، زورنهٔ کړي شور نهٔ کړي
سمندر ګوره چې څنګ، خپل اندرون ښايي

د پرمختيا خبرې، هسې جواز به ګڼي
د چا چې نن هم له نن، هسې پرون ښايي

له هم يقين ساتي، ستا په وعدو دلبره
**پرېشان** چې خپل زخمي سر، له په زنګون ښايي

يو نظر مې د همه وجود سکون شي
ماښامي مې پرې رنګين مست مې جنون شي

دا دخوبه ډکې سرې خمارې سترګې
خوار مئين ځکه سر ښکته په زنګون شي

په لمحه لمحه کښې هسې را ژوندی شم
په لمحه لمحه کښې قتل مې ژوندون شي

عاشق مۀ شې روغ وجود درته نصيب شه
عاشقي د زړۀ په رنځ او په چاودون شي

له نادان غرور دې خاورې شم زرداره!
خزانې به دې په سرلکه قارون شي

خدای دې روغ کاندي **پرېشان** د عشق له رنځه
ماښامونه د فراق دې سباوون شي



بس په يو غم دې اړولی يم بل کار نۀ وينم
داسې دې ړوند کړمه اشنا چې سمه لار نۀ وينم

نۀ تغافل دی، نه جنون دی استغراق يې ګڼه
دا چې نه شپه په سترګو وينم او سهار نۀ وينم

له پردي ګله چاښکاري د زړۀ په سر ويشتلې
زخمي بلبل يم درد آلود باغ و بهار نۀ وينم

ساقي خفۀ دې که دا زۀ څنګه مېخواريم خدايه
کالونه وشول له خو هيڅ ست او خمار نۀ وينم

هسې دې مينه ده شيندلې په بې قدره زړونو
لکه د ځان هسې دې بل څوك طلبګار نۀ وينم

له کومه راغلم چرته پرېوتم دا چرته ځمه
وير کائنات دې ای **پرېشانه** خپل مدار نۀ وينم

کور دې ښۀ د غرۀ په سر خو لار ورله پېدا کا
جګې جګې وُنې د چنار ورله پېدا کا

ای د خپل بچي د مستقبل نه ناخبر پلاره
ځي درنه په بله نن څۀ کار ورله پېدا کا

خاوره د وطن په سرو اورونو سوزېدلې ده
راشه ای سپرلیه! لږ سینګار ورله پېدا کا

نن راته یو چا د خپل غزل په حقله اووئیل
شعر دې ډېر ښۀ دی نور ګفتار ورله پېدا کا

خلاصې دي پردې د کائنات دراز منکر اشنا!
تۀ خو هم نظر لږ د دیدار ورله پېدا کا

دا دغم مرض مې چې تر مرګه رسوي **پرېشان!**
داسې دې بیا نۀ وشي خمار ورله پېدا کا



○

د فطرت په ښکلا ګانو کښې له رنګ شته
له موسم د سپرلي تېر نۀ دی آهنګ شته

له د ژوند متهو کښې سُر د جنون شته دی
د زندان په ځنځیرونو کښې له شرنګ شته

پروا نشته په ډیوه کښې که تیل بس شي
د سحر امید مو شته دی چې پتنګ شته

انقلاب د اباسین له په څپو دی
په موجونو کښې یې زور او هم غورځنګ شته

له خو ویاړ کړو د خیبر په دنګو څوکو
په سوبلي وزیرستان کښې غرونه دنګ شته

چې د زړه په وینو لیکي غزلونه
د **پرېشان** په خپلو وینو له قلنګ شته

د منطق له سپین حبابه
د رڼو اوښکو دریابه

ناست وخېژ یې د ژوند زده کړ
له کړاو او اضطرابه
دا یادونه دا بادونه
دا خوندونه له شبابه
دومره حسن دومره مینه
یه جانانه، یه ګلابه
دا نظام په دغه زمکه
دا قدرت دې لا ځوابه
یوه لار ده چې بس لار ده
نورې لارې له سرابه

د رموز ډکې خبرې
د **پرېشان** له انتخابه



چې مې په فکر د عرفان کښې رواني پېدا کړه
هله دې ورکو سلسلو کښې مې هستي پېدا کړه

هغه چې زه به وم د چا په یو نظر لېونی
ځم میخانې ته که مې بیا هغه ځواني پېدا کړه

ددې غمونو د هجوم نه چرې خلاص نه شومه
څه که مې ځان له زمانې نه ازادي پېدا کړه

د غزل هر شعر مې د درد دویر سندرې وایې
ما ادبې دور کښې کله خوشحالي پېدا کړه

اوس مې دتورو زلفو سیورې ته لحظه نه پرېږدي
چا چې زما د زړه د باغ پهٔ سیند مستي پېدا کړه

ملګرو مهٔ غواړئ **پرېشان** د شور په دې کلي کښې
مایې په دې دشت کښې د پلونو نښاني پېدا کړه

زۀ دا هسې د دنیا دا روزګار څۀ کړم
چې فنا لري دا دراو دیار څۀ کړم

زه د چا په تش خیال هسې هویدا یم
د ساقي د سپینو لاسو خمار څۀ کړم

یو قدم یې چې د عرش تر منارو دی
په قامت د سروې څۀ په چنار څۀ کړم

زه په دې ناقلارۍ کښې په قرار وم
په قرار کښې ناقرار وم قرار څۀ کړم

زما مینه د بورا زړه د پتنګ دی
زه پروا د دې لمبو او د خار څۀ کړم

چې مې قدر په کښې نشته ای **پرېشانه**
بیا دا هسې د خوبانو بازار څۀ کړم



چې نۀ سُر وي نۀ سرود وي نۀ سرور وي
مېخانه، څه به ساقي، څه به غرور وي

هسې ښکاري د زاهد سترګې خوابیده
په دې سترګو کښې خو پټ یو لوی شعور وي

خدای دې دا د هاړ ګرمي چرته کړي ورکه
ستا د سرو شونډو پیالې په کښې سور اور وي

تغافل، بربریت به پري رانۀ شي
چې ضمیر او په احساس کښې لږ هم شور وي

وخت خو غواړي انقلاب د ظلمو وینه
ننګیالو که د چا متو کښې لږ زور وي

د **پرېشان** وینه په هغه ځای کښې توی کړې
خدایه! چرته چې د تندې جام نسکور وي

# بې مطلع شعرونه

لوړ لوړ قامتونه شي حېران ګوته په خله ورته
دا دنګه جينۍ چې دچنار په څنګ کښې اودرېږي

هرڅو يې که وخت او زمانه دارِ منصور ته وړي
عشق دا عاشق دا چې، د دلدار په څنګ کښې اودرېږي

مونږ ته لار خالي کړئ چې د خپل مرام مزل کوو
څوك چې شي ناکام بايد د لار په څنګ کښې اودرېږي

څه به دې شي پاتې د بل فکر د سازش جواز
خپل دې چې پخپله د اغيار په څنګ کښې اودرېږي

ته لکه بادشاه يې د زړګي په سلطنت کښېنه
ځوان **پرېشان** به چرته د خروار په څنګ کښې اودرېږي



ژوند مې هسې لکه خوب ليدۀ په ژوند کښې
دادې ژوند په افسانه کښې مې ژوند بائيلۀ

په فراق مې هسې تريخ شو لکه زهر
د وصال يوه شېبه کښې مې ژوند بائيلۀ

ځيګر خون مې زمزمه د خيال په تار کړ
د عشق سوې ترانه کښې مې ژوند بائيلۀ

په حرکت مئين وم څنګه ساکن لاړم
د ژوندو په هديره کښې مې ژوند بائيلۀ

لکه بت شوم **پرېشان** تل چې په خلۀ پاتې
زړۀ چاودونکې تماشه کښې مې ژوند بائيلۀ

پېژندلی نهٔ يم چا ګني سره زر يم
زه صدف يم د خپل فکر هم ګوهر يم

زه مئين د صحرا په رېګزارونو
تنهايي زما ليلی زه يې دلبر يم

ولې اووايم و ځانته چې زه هيڅ يم
هنرونه لمازېږي زه هنر يم

د جلوت ننداره کېږي له خلوته
شکر خدايه چې له دې رازه خبر يم

زه **پرېشان** د اميدونو لاروی يم
د منزل په لور روان مخ په سحر يم



لکه شبنم د سرو ګلونو مېنځ کښې ژوند کومه
د تماشې غوندې اورونو مېنځ کښې ژوند کومه

زه خو د چا د ارمان سترګې يم ښائيست لټووم
لکه مچۍ د شنو باغونو مېنځ کښې ژوند کومه

زه لکه ځريکه يم ټپه يمه خپل درد لرمه
زه د سرونو اهنګونو مېنځ کښې ژوند کومه

زه ستا د ښار دمحلونو په چل ښه پوهېږم
خېر که د تورو تورو غرونو مېنځ کښې ژوند کومه

زه خو يو باد يم د الفت د زمانې تر کلي
زه دخيالونو او بادونو مېنځ کې ژوند کومه

زه خو غزل يم د **پرېشان** د نوي نوي فکر
زه د بلها بلها رنګونو مېنځ کښې ژوند کومه

د ژوندون هره لمحه به ستا تو ځوانه
هر ساعت هره شېبه به ستا تو ځوانه

بیا خفه یې تهٔ زما خره وطنه!
یاقربان هره جذبه به ستا تو ځوانه

خدای دې ستا د بنګړو شور بې شوره نهٔ کړي
دا د ژمي یخه شپه به ستا تو ځوانه

شاعري د یارانې پهٔ مثال ښایي
خود فکر حوصله به ستا تو ځوانه

جنګ دې ورك شي ورانوي ودان کورونه
دا دامن سلسله به ستا تو ځوانه

اې **پرېشانه** ننګیالي به تل وسېږو
د پښتون د قام شمله به ستا تو ځوانه



د دړد بې دلي ژوندانه د رېګذارونو قیصې
زما په خیال خورې ورې دي د دشتونو قیصې

ای د ژوندون په رنځ اخته زما د دړد وجوده
شېرین جانان له مې بس مهٔ کړه د وختونو قیصې

مونږ له دې دشت ته ابراهیم ۴ نهٔ دې راغلې څه بیا
مونږ د دې دشت له غرمو زده کړې د اورونو قیصې

ناست وو د توت په څانګه دواړه د سپرلي سحر وو
بورا بلبل کړې یو اوبل ته د ګلونو قیصې

چا مصور له پخواه جوړې تصویر وران د وطن
مه کړه **پرېشانه** هسې نن د شنو باغونو قیصې

تا سره مې ډېر يادونه دي تړلي
ستا په خيال کښې مې فکرونه دي تړلي

لکه څنګه شپه او ورځ سره تړلي
د خوښي سره غمونه دي تړلي

زه د ستا سره رېښتوني محبت کړم
زما او ستا خو سره زړونه دي تړلي

سړي نۀ دي په يو قام پورې تړلي
په سړو پورې قامونه دي تړلي

څوك د وخت په ځنځيرونو کښې بندي شول
چا په غاړه ځنځيرونه دي تړلي

څومره ښکلې او ساده دلبره
**پرېشان** تا پورې شعرونه دي تړلي



شپه کړم تېره په شوګير
په فرياد او په نفير

څه مانا او څه نامه؟
دا د ستړي ژوند تفسير
د سپوږمۍ په رڼا ئي
ګورم غلي يو تصوير
دا رېګونه د ژوندون
دا د سرې دشتې بهير
خپل ژوندون او خپل فطرت
تنهايي او زړه دلګير
وخت تېرې زما جنون
د حالاتو په ځنځير

د **پرېشان** د زړه دوا
ستا د سرو شونډو عصير

ستا په یاد کښې مې زړه هسې درد وغم کا
شوګیرې کا، ژړا، سرې سترګې مې غم کا

اوس د تُورې وخت تېر شوی تُوره کېږده
مقابله د نوي دور په قلم کا

د سجدې نه سر راپورته کړه حبیبه!
په دیدار دې مستانه د زړۀ حرم کا

خواه په خواه کښې دې پښتون قام وېده پروت دی
اباسینه! خدای د پاره لږ شور کم کا

داسې ورځ په مونږ راتلونې ده انسانه!
غرونه دشتې په خدای واړه سره سم کا

مینه نۀ کړل د ژوندون څخه نفرت دی
د **پرېشان** دلبره مۀ دغه ستم کا



د فطرت د ښکلا رنګ په ګریان بیا دئ
ژړېدلې مې د سترګو اسمان بیا دئ

غټې کاروانه دادې دور دغه درې دي
حسن وعشق، مال و قتال او ایمان بیا دئ
چې مهار د امېد پرې نۀ وي یارانو
رسولی مې لوټلی کاروان بیا دئ
ډېر حوس به دې ساړې خاورې په خله کا
ضرورت کارِ اول دئ ارمان بیا دئ
د فطرت د خوشبویانو نه منکره
مانیولی درته ګل د ریحان بیا دئ
له هر خواه یې په باڼو وولې پېمخې
نن مې زړه پۀ دې محفل کښې ارزان بیا دئ

بې له غمه هسې څوک ژاړي **پرېشانه!**
چې د وریځو له سببه باران بیا دئ

نور مې زړه ستا کوم يو غم ته لېوني او بېتاب نۀ دئ
د فرقت غم دې دلبره يوه لحظه هم د تاب نۀ دئ

چې عاشق وي نو اشنا وي د خپل عشق د انجام نه
دا دعشق په دې درياب کښې که لاهو شي غرقاب نۀ دی

بس دې چپه خله بهتر ده خاموشي د ځان ناموس دئ
وخت په زړۀ دننه سوزي د بېرون دځواب نۀ دئ

ژوند چې نشته ملاجانه! دوزخ نشته جنت نشته
ژوند عرفان دئ فلسفه ده، ژوندون نوم د سراب نۀ دی

نکته چينه! حېران مۀ شي د **پرېشان** په غزل هسې
ګني بيا د چا کلام دی؟ چې زما د کتاب نۀ دئ



نۀ ځاېږي ای هوښياره دا حالات په دايره کښې
بس دې عقل دې بندي کا د خپل ذات په دايره کښې

دغه وصف دالله دی انسان هم ځکه پرې ناز کړي
د غرور صفت دې نۀ شي د چا مات په دايره کښې
هځوي مې ساقي جانه! ستا د سپينو ګوتو جام ته
ډنډ د وينو مې مست شوی د جذبات په دايره کښې
نن په ژبه او قلم باندې د تُورې د هار ولاړ دی
بس ملا وعظ محدود کړه ترجمات په دايره کښې
مطلبي ياران بيا يوځای راغونډ شوي په محفل کښې
لکه پروت بيا ډك خانك دی د خېرات په دايره کښې
دا د رازونياز خبرې تر ملا ترجمات نۀ دي
هستئ شته چې يې بند کړې کائنات په دايره کښې

ځوان **پرېشان** دې وږی نۀ يم د سپين مخ د سرکو لبو
دې تا تش کاتۀ مې خوښ دي ملاقات په دايره کښې

د فکر د شعور د وېنا خلک لېوني شول
ما عقل و هوش بائیلل که دا خلک لېوني شول

ما وېل چې که یو زه یم چې په ښکلو مې زړۀ سوزي
چا وېل نادانه یاره بلا خلک لېوني شول

منزل یې په کوم لوري او مزل کړي په کوم لوري
بې لارې کړي مزل په رڼا خلک لېوني شول

هر وخت سوالګرې سترګې د پردي لاس ګوتې شمېري
حوس کښې د دنیا د دنیا خلک لېوني شول

**پرېشانه!** مونږ چې غم د نن په نن باندې ونۀ کړو
زمونږ د غم ښادۍ د سبا خلک لېوني شول



تصور مې د غزل پر مخ پرېشان کړ
ما خپل نفس مضمون وحشي الاوجدان کړ

خوشحالي مې د عشق شوق کښې ټوله بائیله
ما د غم په سامان بار د ژوند کاروان کړ

ستا پرمخ د بېوسۍ شېرینه اوښکه
ما په سترګو کښې ترې جوړ د غم باران کړ

بوړبنوونکي حېراني به دې زر مړ کړي
که مې راز د سوي زړۀ درته افشان کړ

د غزل مزاج مې تریخ دی لکه زهر
بې رخي مې دې تاریخ د زړۀ بیان کړ

له مې زړه کښې ترنم د شباب زغلي
ځوان **پرېشان** دې کله زوړ په خپل دوران کړ

راشه ای زاهده! انتشار له مېنځه وباسه
تهٔ په کښې د مینې ګنهګار له مېنځه وباسه

وصل خو په خپله یو بهار دی هم سینګار دی یو
څه بهار بهار کوې بهار له مېنځه وباسه

دنګې دنګې ونې دې په کور کښې د چنار چې دي
یاره کبرجنه! دا دېوار له مېنځه وباسه

کار خو هغه کار چې څه حاصل یې وي دلداره خو
دا کار د کار نهٔ دی دغه کار له مېنځه وباسه

پوئ نهٔ شوې د وصل او بېلتون په فلسفه باندې
لار په مېنځ کښې مهٔ وباسه، لار له مېنځه وباسه

نن یې ای **پرېشانه!** په محفل کښې وېل رقیب ته دا
دا سړی همداسې سوګوار له مېنځه وباسه



ځنځیر به شړنګومه خوضمیر نهٔ خرڅومه
وطنه! ستا د ښکلي مخ تصویر نهٔ خرڅومه

کوي ترجماني به د خپل قام په نره ژبه
په ګونګاژبه زه د ملك سفیر نهٔ خرڅومه

ما هسې ترې د زړه په بدل سوال د بوسې وکړ
وئیل یې په دې بیعه خو تنویر نهٔ خرڅومه

اجمل نهٔ خرڅومه، جهاني نهٔ خرڅومه
کاروان د خپلو مستو نغمو پیر نهٔ خرڅومه

خبر غږ مې که هرڅو د زولنو په شور کې ورك شي
قلم نه خرڅومه خپل تحریر نهٔ خرڅومه

کابل نهٔ خرڅومه، پېښور نهٔ خرڅومه
**پرېشانه!** شنې دامانې د کشیمر نهٔ خرڅومه

مطربه ستا د مستۍ ترانې سرور يې مات کړ
يو مست ساقي راغلی مېخانې دستور يې مات کړ

کلام الهي ته چې انسان کېښوده غاړه
د غرونو د امتياز او د خودۍ غرور يې مات کړ

خواره يې چې لام لام بيا حبشي زلفان پر مخ کړل
د مينې په عجم کښې د رڼا ظهور يې مات کړ

منصور وګورئ وشلوو ګرېوان د حده تېر شو
جنون يې تسلسل د روایاتو په زور مات کړ

دا نن چې **پرېشان** بیا څنګ د محفله غمګین راغی
دا چا ورته حرم کښې د زړهٔ بیا کوه طور مات کړ



پري زاد چې په سحر کښې دلفرېبه خندا راوړي
په يو نوي خوږ احساس کښې له ژوندون تلې ساه راوړي

د سپرلي د شفق رنګ کښې د سحر بادونه مست شي
چې خوشبو دې له زلفانو کله باده سبا راوړي

خدايه څومره رازو نياز معصوميت په کښې ښکاره شي
چې واړهٔ نازك لاسونه په سپين مخ د حيا راوړي

ستا بې واره شان کاتهٔ مې په غزل باندې وار بَرکړي
څو نغمې د خيال د باغه د مستۍ په ګډا راوړي

نن يې بيا چرته اغوستې د خپل خيال جامې رنګينې
**پرېشان** لاړ د ښکليو ښار ته خدائيګو زر به سودا راوړي

د ژوند چغې مې په سر کښې په زلزل شي
ناګهانه مې په خله د سوزغزل شي

بهار نهٔ دي چې وطن په کښې سر سبز شي
بهار هغه چې د زړونو نرګس ګل شي

لما رنګ د شب و روز څه پوښتې یاره
لکه غوا دي سپینې تورې په مزل شي

چې مې یو نظر، نظر ته ستا نظر شي
بس په یو نظر مې اور په نظر بل شي

چې د خپلو تلامیذو اطوار ګورم
د تهذیب ماڼۍ به ذر په تنزل شي

ای **پرېشانه!** یار چې ځي خوشحالي یوسي
غم د هجر یې زما زړه کښې متل شي



چې ستا فکر د هوس او د هوا دئ
زړهٔ زما له تانه موړ دئ بې پروا دئ

ځکه ما خپلې قیصې کړلې راټولې
چې ستا راز د هر اشنا سره اشنا دئ

په اسرار د عجز پروت سینه مدهوشه
زاهد ګوره بیا خلوت کښې په دعا دئ

بهرکېف، څه به دي ستایمه سرې شونډې
خو یو ګل دي په صحرا کښې په مسکا دئ

مګر نهٔ دي ژوندون هیڅ د دنیا هسې
بس که ژوند دي هغه ژوند چې د عقبا دئ

په لار ګوره سر زخمي سر ګشته ګرځي
ځوان **پرېشان** بیا د افکارو همنوا دئ

دا بادونه د خزان خوند د بهار وړي
چې بلبل له چمن بيا سينه فګار وړي

د مئين د زړۀ د وينو پرېماني ده
له محفله چې يار ځي بانۀ خمار وړي

دې ګلچين مو په چمن کښې کور جوړ کړې
له پښتون وطن مو زېړ د ګلو هار وړي

دا خو زه يم چې ما ستا غم ته اوږه کړه
ګني څوک دي چې دې وخت کښې پردې بار وړي

څومره غم به وي چې ناست راته دلبر وي
مازيګر وي ما په لوري د مزار وړي

د يار شونډې ښکلول ګران دي **پرېشانه!**
ښاپېرۍ د کوهِ قاف خُلۀ کښې انګار وړي



دا چې زما د زړۀ حرم ژړوي
زړۀ کښې مې پټ د زړ صنم ژړوي

د طوفاني فکر باغي لفظونه
ما د حالاتو په هر غم ژړوي

اوښکو مې لارې په مخ جوړې کړلې
دا مې له ستا غمونه کم ژړوي

دا د حالاتو سر بريده تصوير
زما په ګوتو کښې قلم ژړوي

په يو موسم کښې مې قرار نشته دی
ما خو نصيبه! هر موسم ژړوي

د چا غزل غمونه **پرېشان!**
ما څومره خوږ په ترنم ژړوي

وخت مې له ياده د جانان د خيال تصوير يوړو
دا خو زما د ژوند كتاب نه يې تفسير يوړو

دا مستي نۀ وه اى كوټواله! د ځوانۍ تنده وه
چې له زندانه مېخانې ته مې ځنځير يوړو

د محبت د برخې وېش مو وو د ګل په پاڼه
يار ترې نه خوب يوړو او ما ترې نه شوګير يوړو

په كومه دشته به دې پلونه لټوم څاروانه!
دا په كوم لوري دې د ژوند درد او بهير يوړو

ما چې پرې ستا د جمال ستوري نوم ليكلى
خطاط پرستو مې د خيال د بام تحرير يوړو

تاته يې ستا ترخنګه ياره هيڅ احساس ونۀ شو
**پرېشان** خو ستا له محفل زړه لګير لګير يوړو



د ګلاب حسن ته سپرلي وربخښي
شونډې دې اورته زندګي وربخښي

ستا په مخ اوښكې د انګورو دانې
د زړه سيندونو له مستي وربخښي

اى د غرور بالاخانو كښې وركه
خداى خو په عجز كښې هستي وربخښي

زما د فكر په سيند مستې نغمې
روح له څپې څۀ شبنمي وربخښي

مۀ كوه دا باران داوښكو ښۀ دى
چې د سينې دشت له نمي وربخښي

**پرېشانه!** نشته ترې كم عقل خلك
څوك چې وښكلو ته زړګي وربخښي

زړه مې د کوم وخت افسانې ژړوي
چې هغه تللې زمانې ژړوي

هغه د خاورو د کورونو ژوندون
ما د بهلول هغه قیصې ژړوي

دچا یادونه او د چا فکرونه
هم مې د ورځې هم د شپې ژړوي

مخکښې مخونه آئینو ژړول
نن خو مخونه آئینې ژړوي

د خپل باغي ژوندون د وخت زندان کښې
د زړه نغمې مې زولنې ژړوي

څوک یې دي څۀ **پرېشان!** د زوره خبر
غم د دلبر سترې سینې ژړوي



راشه مصوره د تصویر جنون دې وګوره
زار دې له خوبونو د تعبیر جنون دې وګوره

سر په زانګانه مئینه ستا داسویلو نه زار
سترګې سرې خمارې د شوګیر جنون دې وګوره

لاړې زمانې د ژوند رېګونه بادول په سر
ای د وخت څاروانه! د بهیر جنون دې وګوره

وګوره زما د عشق جنون یې څنګه وتړۀ
زلفې دې درازې د ځنځیر جنون دې وګوره

تا خو به ډېر ناز تاخو به ډېر سر پرېکاوۀ په شېخ
راشه ای مرشده! اوس د پیر جنون دې وګوره

غوارې انقلاب د جمعیت غورځنګ کوي لټون
زار دې شم **پرېشانه!** د ضمیر جنون دې ګوره

چې د کلۍ د ټوکېدو وخت راشي
د طبيعت د غزېدو وخت راشي

ماخپل جانان کړو په سندرو کښې ياد
شېخه! د ستا به دتسبو وخت راشي

راشه ودۀ شه په دې هيله د خوب
چې دې د سترګو غړېدو وخت راشي

ښکلي وزر يې شي سبب د زوال
چې د مېږي د غرقيدو وخت راشي

د محبت نازك تارونه پرې شي
چې دبنګړو د ماتېدو وخت راشي

تل به **پرېشان** نۀ يم د راز خبرې
په ما به هم د خندېدو وخت راشي



ستا کوڅې ته به راځمه، وخت په وخت
ګرانه تابه يادومه، وخت په وخت

په شاعر احساس تل نۀ وي الهامونه
څه نه څۀ درته ليکمه، وخت په وخت

وخت په وخت راته هغه وخت را يادېږي
وخته! تابه چې وژمه، وخت په وخت

د هجران د زورو زغمه اى صنمه!
په سر خاورې بادومه، وخت په وخت

ژوند د پوهې اوحرکت نه سېوا څۀ دي
دغه سوال ځوابومه، وخت په وخت

پخپل ځان کښې رانه خپل ځان دې ورك شوى
**پرېشان** خپل ځان لټومه، وخت په وخت

سمندر سمندر غم په مستۍ څښمه
څه وجود یم له خپل ځان ویرېدمه

تاکه هر څو کړې تار تار زلفې پرېشانې
زه په خپل تارتار ګرېوان و نازېدمه

حقیقت مې ظاهر ومومند په مجاز کښې
د ناپوهو په پوهۍ وپوهېدمه

آئینه چې د ضمیر وه بې غباره
تور په تورو، سپین په سپینو غږېدمه

مجنون نه وم دا خو ستا دعشق جنون وو
له ماشوم به دې کوڅه کښې ګرځېدمه

چې مې هېر کړلې نو هله درته یاد شوم
**پرېشان** تاته هسې کله یادېدمه



په جلوه مې د سپین مخ چې نظر ګېر شو
بس د ستورو د رڼا محفل مې هېر شو

ولې فکر مې شي جمع په حېرت کښې
چې جنون مې د تلاش تر حده تېر شو

ما کتل ورته خو یار بې رُخې وکړه
د پولیس په بې خبرۍ کښې ګوره خېر شو

غم ډېر ډېر کوئ چې زر قیصه خلاصیږي
ما چې لږ لږ غم کاوه نو ځکه ډېر شو

درز د زمکې کړي چینې تاندې روانې
که مې غم د زړه په مخ هر څو برسېر شو

ظاهر پرېږده چې ظاهر وي په مجاز کښې
**پرېشان** ښه دی لېونیانو کښې چې شمېر شو

دا مې ده مستي ذوقِ جمـــال و تـه پـه ځير يم
ورک يم په حېرت کښې دې کمال وته په ځير يم

له چې يې ځواب وشي چې ښکته بره څـۀ دي؟
زه چې له په خپله و خپل سـوال و ته په ځير يم

وايم د خوبانو ټولې خلې مې په يوه خُلۀ کړای
بس دې يو ارمان او دغـه خيال و ته په ځير يم

تۀ کــړې د سبا غم فلسفې ځکه خـوشحال يم
زه ځکه بد حال يم چې هــر حال و ته په ځير يم

سترګو کښې اشنا دسترګـو رپ وعده دې وکړه
تېرې به شي ورځې ګنې کال وتـه پـه ځيــر يم

يو خواه د خپل زړۀ داغـونه شمېرمه **پرېشان** يم
بل محبوبې ستا د زنې خـــال و ته په ځير يم



د خـــدای د عظمتونو تنوير په کښې ليـــــدۀ شي
سترګې که هيندارې دي تصـــوير په کښې ليدۀ شي

وايه ای رېباره د جــــانان د لـــــــــوري وايه
شونډې دي پارِ پارِ بيا څه وير په کښې ليدۀ شي

هسې خـو شېخـان لـه محفـل نـۀ کـړې طوافونـه
بيـا خـوک بـلاول د بېنظير پــه کښې ليــدۀ شي

يــو لـــه خـدای يرېـږم لـــه خـدايانو نـۀ يرېـږم
څنګ کنه؟ اواز مې د ضميـر په کښې ليـدۀ شي

ناست دي په محفـل کښې بلا ښکلي ای ملګــرو!
دا زمـا دلبـر دی چې ظهيـر پـه کښـې ليـدۀ شي

زړۀ کښې د **پرېشان** به وايه تۀ نور څــۀ پيدا کــړې
بس خو د غمـــونو دا جاګير پـه کښې ليدۀ شي

دستار په نري تار چې څوک اغاز کا
غم به ما و ته پخوا د مرګ اواز کا

خدایه ما تل د هغې قافلې یار کا
چې سفر دې تل په لوري د حجاز کا

یوه ورځ به رانه سترګې نۀ کا پټې
غاصبان مې که نن ډېر نظرانداز کا

ستا یادونه ولې تا باندې څۀ نۀ کا
دا په ما باندې کانې په کوم جواز کا

هر ژوندی دی له فطرته په ادراک کښې
ښکار خو سترګې یه زمری او یه یې باز کا

**پرېشان** شتون کا تل د خیال ورکه دنیا کښې
چې خبرې د حکمت د راز و نیاز کا



## سپینه وېنا

پوخ مسلمان شه — صحیح انسان شه
زلمی پښتون شه — ننګیالی ځوان شه
سرکشي مۀ کړه — په لار روان شه
ښکلې شاعر کړه — سوچ د عرفان شه
اوښکې کاروان کړه — بیا یې څاروان شه
په ځان مئین شه — په ځان قربان شه
د چمن راز شه — د مشکو کان شه
ښکلي سیرت کښې — په هر چا ګران شه
د ظالم مخکښې — په حق ګویان شه
مردِ مؤمن شه — جګ پۀ میدان شه
تېښته بلا ده — تري په امان شه

شک د زړۀ لرې کړه سپینه وېنا ده
د **پرېشان** زړۀ کښې دا مدعا ده

# جهانِ تمنا

پروت هر څاڅکي مې د اوښکو په ګرېوان د تمنا دی
دا لحظه لحظه هر فکر مې جهان د تمنا دی

دا چې څاڅکي د شبنم سحر د ګل غېږ کښې ځلا کا
د فطرت د ښکلا هر رنګ په ګرېان د تمنا دی

دا پۀ سرو غرمو چې الوزي د وخت یخ تاودۀ بادونه
د فاني دنیا هر سیوري له یو آن د تمنا دی

د چا ګل به د زړۀ سوزي د وجود په سوي دشت کښې
دا په شنه اسمان چې اوري دا باران د تمنا دی

زما زړه هم مینه غواړي د تاودو شونډو په سیند کښې
د ژوند هریو لوښی تش دی زړۀ دکان د تمنا دی

چې په خله دې تورې خاورې یوځل باد شي نو بیا څۀ کا
**پرېشان** نن چې فکر وکړو دا دوران د تمنا دی



# د وطن په نامه

راشه ننګ وکړه د وطن د دې حصار په نامه
په قام ملت کښې چې یادېږي د وقار په نامه

زلمیانو وېښ شئ په خپل کور کښې درته کور جوړوي
دلته راغلي داسې ډېر د دې روزګار په نامه

څومره تکړه دی بهادر په مخکښې مخکښې درومي
د ننګ شمله د قافلې دادې سردار په نامه

راځئ چې رنګ کړو په سرو وینو د غلیم تور غرونه
انقلاب راولو هم هلته د بهار په نامه

دا خو مرګی دی چې څوك یاد شي په یو قام ملت کښې
څوك دې یاد نۀ شي په یو کور کښې د غدار په نامه

مغربیان کله ای **پرېشانه!** دومره ښۀ خلك دي
په مونږ یې خپلې وینې نوش کړې د خمار په نامه

# مزل

پـه مـزل منـزل مونـدی شـو چـې مـزل کـړو
د امیـد څـراغ راځـئ چـې سـره بـل کـړو

دا زاړۀ واړه کاروانـونـه واړه پرېـږدو
روانېـږو چـې منـزل پـه لـوري زغـل کـړو

خپـل نظـر بـه فلـك وا چـوو مـزل کـړو
د سپوږمۍ پـه رڼـا يـې کښـې جـوړ غـزل کـړو

روانـي د ژونـد رګـونـو کښـې پيـدا کـړو
کړکېچنـه مسـئله چـې د ژونـد حـل کـړو

د چـا وینـه و څـراغ لـره تېـل نـۀ کـړو
د الفـت پـه رڼـا ښـکلی دا محفـل کـړو

د «پـاخون» پـه نامـه خپـل کـاروان روان کـړو
ای **پرېشـانه!** لـوئ واړۀ چـې سـره مـل کـړو



# پښتنو ته

پښـتنو خپـل احساسـات و پېژنـي
جذبـه ښـه ده خو جـذبات و پېژنـي

خپـل مقـام ځانتـه پېـدا کـړئ خـوددار اوسئ
کردارونـه اخلاقيـات و پېژنـي

دا دې ګـران پښتونسـتان وطـن پـه مينـه
د خپـل پـلار نيکـه خـدمات و پېژنـي

پـه دې غرونـو کښـې هررنـګ جواهرات شته
نباتـات او جمـادات و پېژنـي

پـه ځـانونو موځـه وکـړل نـور بـه څـه شي
د نـن دور دا حـالات و پېژنـي

رنګينـي کـه د وطـن د تـاريخ سـوال دی
خپـل شـاعر د دۀ خيـالات و پېژنـي

لېوني لېوني مه ګرځئ خود سرو
حادثات او واردات و پېژنئ

د تاريخ پاڼې رواړئ وګورئ
تشخص او شخصيات و پېژنئ

د شاهين غوندې نظر په فلك واه كړئ
بلندي علم فلكيات و پېژنئ

زه **پرېشان** بس اخيري دغه وينا كړم
كه خداى پېژنئ خپل ذات و پېژنئ



## د غمګين ماښام تصوير

يو كاروان دى يو بهير دى
زما زړۀ د دړد سفير دى

زړه مې كېږي الوتو ته
خو په پښو كښې مې ځنځير دى

بيا مې سترګو كښې راوړي
د غمګين ماښام تصوير دى

په ګلشن خزان راغلى
د بلبلو سوز نفير دى

زما ژوند سېزلى ژوند دى
زما ژوند د اور لكير دى

سر يې ايښى په زنګون دى
**پرېشان** بيا كړى شوګير دى

## د وزیرستان په نوم

ځئ خپل وطن ته چې ځو
دغرۀ لمن ته چې ځو
ولې یې هیر کړو وطن تن وي
ځئ خپل تن ته چې ځو
د غره لمن ته چې ځو

دا دنیکونو وطن
د تاریخونو وطن
د شمله ورو وطن
د سترګو ورو وطن
دا د بازانو کور دئ
دشنو زمریانو کور دئ
د رواجونو وطن
د ښو رسمونو وطن
د مېلمستیا وطن دئ
ډك د ښكلا وطن دئ



د جګو غرونو سهار
دا د شپانو پرېځار
دا سیوري سیوري کمر
دبلبلانو چغار
د پیر غر هسکه غړئ
ورته حیرانه نړئ
تاریخ چې فخر پرې کړي
هغه روانه لړئ
د پیرروښان وطن دئ
میرزاعلی خان وطن دئ

د نیمې شپې کاروان به
په نیمه شپه تېرېږي
هم به سحر و ماښام
هم به غرمه تېرېږي
دا مکین وال مازیګر
دا خېسوروال مازیګر
ژړي به بیا ګرځېږي
ډهول ته به بیا نڅېږي
دازمونږ خپل وطن دئ
دا لکه ګل وطن دئ

خدای به مو زړونه روغ کړي
وخت به زخمونه روغ کړي
سپرلی به بیا د وطن
رنځور ګلو نه روغ کړي
پرېشان محسود به لیکي
د خوشحالۍ سندرې
د خپل وطن په مینه
د ورور ولۍ سندرې
وزیرستان مې کړو یاد
تل دې وي ښاد او اباد



## ځلوېښت قدمه

زما له جونګړې
ستا تر محله
((ځلوېښت قدمه))
تهٔ مې تپوس کړې
زه دې تپوس کړم
خو ای صنمه!
نهٔ یو بل اورو
نهٔ یو بل وینو
دوران تېرېږي
صورت زړېږي

چې څه به کېږي
دا به څه کېږي؟

## ویړ کائنات

ویړ کائنات دی
علم دریاب دی

ککرۍ جام ده
مازغه یو پاؤ دی
رسېدل ګران دي
ځائېدل ګران دی
دومره ځېرنه
دا لاس وهنه
ځان ورکول دي
عقل بائیلل دي
بس،
د کائنات تماشه
وکړه د ذات تماشه
د خدای خدایي ده
دا لافاني ده



## پېرزونه

د سپرلي دا ښکلی او رنګین مازیګر
دا چې د کلي ټول ښکلي
د پردیس ټول مسافر
په یو ټولي په یو محفل کښې ناست دي
د خوشحالۍ د ژوند سندرې وایي
نجونو منګي په سر ګودر ته کلیوال بادونه
د سالووالو پېغلو د خولو بوئ راوړي
او دا د لمر طلایي وړانګې چې
انساني ښائیست ته
له د جمال او دعروج دبامه
له د ژوندون د مستۍ ډاډ ورکوي
او
دا یو باغي شاعر چې
د وخت د شپې په تنهایي کښې د خیال
د خپل جانان د بنګړو د شور سندرې وایي
او دا بلبل چې

د ګل په ښاخ
نغمه سرا ناست
د خپل خوب و خیال نغمې اوري
او دا بازان چې
د پیرغر له دنګې څوکې
د شنو ننښترو په وزرو خپل وزر وهي
نو زه د سپرلي دا ښکلې او رنګین مازیګر
د باران د هغې یوې شپې په نوم
مخصوص او پېرزو ګرځوم
چا چې زما د مستۍ سمندر
په
یو
څاڅکي
کښې
لاهو
کړ!



## د قلم کردار

مونږ دادې دور با شعوره زلمي
د خپل قلم دخپل کتاب په کردار
د ویر نړۍ ژوندون ته
څۀ ځنې ټکي لیکو
څه داسې وېښې داسې ژوندي لیکونه
چې په هغه ټکو کښې
یو وېښ خاموش انقلاب
د آزادۍ د لټون
د ژوند د خوشې بیابان د چغو
یو یرونکی آواز
شور او غوغا ښکاري
چې په هغو ټکو کښې
د خپل شهید د وینو
ننګ او رڼا ښکاري

نو دغه رنګین ټکي
دغه ژوندي حرفونه
چې با شعوره انسان کله خپل مخ ته کېږدي
په کښې خپل ذات ووینې
تصویر تخلیق د قدرت
د خدای صفات اووینې
بیا به دا ښکلي ټکي
دا دشهید په وینو
لیکلي شوي ټکي
لاس او پښې وغزوي
دخپل قاتل غېږ کښې به
د ژوندون ساه واخلي
بیا به هم دغه انسان
د انسانیت آئینه
چرې هم نۀ ماتوي
څوك چې احساس لري
ژوندې ضمیر لري
نو دغه سور انقلاب
دا دقلم کردار دی
مونږ که قلم رواخلو
مونږ که کتاب رواخلو



څه که کړو خپلې وینې
څه د صنم رواخلو
نو ای زما ملګرو!
مونږ داسې ټکي ښکل کړو
دا آئینې ښکل کړو
دخپل قلم د خپل کتاب په کردار
نن د نړۍ د هر مقتول غېږ
د خپل قاتل تر غوږ ور ورسوو

# دعا

ځــوان طاقــت دخپــل اظهــار د بيــان راکــړې
بــې پــروا خــو بــې ضــرره زبــان راکــړې

خدايــه! مــا کــړې خېــر العقــل پــه جهــان کښــې
نظـــر بـــره پـــه فلـــك و اســـمان راکـــړې

پــه اســرار مــې د قــدرت ســينه افــروز کــړې
چــې پــرې تاوينمــه داســې چشــمان راکــړې

چــې ګنــاه پــرې زۀ د خپلــې ســينې پــاك کــړم
داســې اوښــکې پــه لېمــو کښــې بــاران راکــړې

پـــه کتـــابِ مـــدلل مـــې مســـتانه کـــړې
لـــه شـــرابو لـــه شـــيطان نـــه امـــان راکـــړې

زۀ **پرېشـــــان** د ســـتا رضـــا غـــواړم خاونـــده!
نۀ چې دلته رالـــه حـــورې غلمان راکـــړې